www.nanafghan.com

# د لمانځه امامت

قاضي محمد حاکم شریعتي

د کندهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**سريزه:**

الحمد الله حبب الصلاته والعبادة للمتقين و حبب قلوبهم لانشفال بعبادة رب العٰلمين والصلاة والسلام على سيدنا و نبينا محمد الذى جعل الصلوٰة عماد الدين وعلى الهِ و اصحابهِ و من دعٰى بدعوةِ الٰى يوم الدين.

**اما بعـــــــــــــد:**

اما بعد: د خداي شکر او ثنا وايم چي ځمکه او اسمان ئي پيداکړي او داسي نظام ئي درولی چي هغه د بشر د فکر د ساحې څخه وتلی دی.

يعني کوم وخت چي انسان ته فکر پيدا شي چي آيا ددې مخلوقاتو مربي او پالونکی شته؟ که ښه په غور سره فکر وکړو په خپله به انسان ته ثابته شي چي يقيناً دغه نظام او کائنات يو مربي لري او دغه پالونکی او څښتن داسي يو ذات دی چي هيڅ شی ئي د علم څخه بهر ندي.

بلکي تر ټولو ښه معلومه خبره داده چي ددې دنيا نظام د همدغه انسان، حضرت محمد (ص) له خاطره ئي پيدا کړ چي هغه حضرت پيغمبر محمد مصطفٰي (صلی الله عليه و سلم) دی نو دا معلومه سوه چي دغه نظام ئي د انسان له خاطره پيدا کړی دی، په همدې اساس خدای [ج] انسان ته دومره اندازه لوړه مرتبه او منزلت ورکړ چي د دنيا نظام او کائنات دده لپاره پيدا سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه د انسان عزت او مرتبه په ټولو کائناتو کښې لوړه ده خو بالمقابل دغه انسان ته په همدغه اندازه دروند او لوی مسئولیت ورسپارل سوی دی.

ځکه د خدای [ج] د نظام په ټولو کائناتو کښې یوازې او یوازې انسان دی چې لوي او درونډ مسئولیت ورته سپارل سوي دي.

څرنګه چې عزت او منزلت د انسان لوړ دی نو همدارنګه مکلفیتونه ئې هم لوی او درانه دي. کوم وخت ئې چې انسان پیدا کړ سالم عقل او صحیح فکر ئې ورته ورکړ. ددې په مقابل کښې ئې د اسلام په پنځو بناؤ مکلف کړ، په همدې اساس ئې لومړنۍ بناء د اسلام، لمونځ پر انسانانو فرض کړ، کله چې انسان خدای [ج] پیدا کړی صرف او صرف ئې د دنیا د اغراضو لپاره ندی پیدا کړی بلکې اساسي هدف او مقصد د انسان د پیدایښت څخه عبادت دی، چې د عباداتو له شمېرې څخه لمونځ هم دی. لمونځ یو اساسي هدف او عمده عبادت دی لکه څرنګه چې حضرت پیغمبر [ص] فرمائي: [**الصلوة معراج المؤمنین**] ژباړه: لمونځ د مؤمنانو معراج دراز او نیاز ځاي دی.

نو همدارنګه یو اساسي او عمده نقطه او مسئولیت په لمانځه کې امامت دی لکه څرنګه چې حضرت محمد [ص] فرمائي: **الامام ضامن والمؤذن المؤتمن** ژباړه: امام ضامن دی او مؤذن امانت اخیستونکی دی دوی دواړه ددې مسئولیت اجراءکولو دنده په غاړه لري.

څرنګه چې مسئولیتونه په هر امر کښې وجود لري نو بناء په همدې اساس ما پخپله همدغه مسئولیت احساس کړ او هغه اصولي مکلفیتونو ته مي غاړه کیښوده تر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



علم او ددين زده کړه په ټوله اسلامي نړۍ کښې خپره شي او د اسلامي احکامو رسول ټولي بشري نړۍ ته زمونږ اسلامي مسئوليت دی.

زه امید لرم چي دغه لیکنه موجب د خدای [ج] د رضائیت، د علم او پوهني علاقه لرونکي ټولني ته د خدمت جوګهٔ چي د ترتیب په هکله ئې په لنډه توګه اشاره کوم مقدمه، درې فصلونه او یوه خاتمه لري چي هر یو فصل په جلا جلا توګه د خپلي موضوع مطلبونه لري. لمړی فصل د لمانځه اهمیت په اسلام کښې ـ د لمانځه د فرضیت حکمتونه ـ د لمانځه د تارك یعني پرېښودونکي حکم د فقهي علماؤ له نظره او همدارنګه دوهم فصل په لمانځه کښې د امامت احکام ـ چي همدارنګه دغه فصل هم د خپلي موضوع اړوند جلا جلا مطلبونه لري.

د امامت تعریف او قسمونه ـ د امامت د صحت شرطونه ـ د امامت مکروهات او هغه اشخاص چي امامت ئې مکروهه دی ـ دریم فصل همدارنګه د خپلي موضوع اړوند جلا جلا مطلبونه لري ـ غوره او بهتره په امامت کښې ـ مقتدیان او امام ـ د تکبیر تحریمې وقت د امام لپاره ـ امام ته د فتحي ورکولو وخت چي د موضوع د روښنائي لپاره په راتلونکو پاڼو کي کافي معلومات دي.

قاضي محمد حاکم شریعتي

و ما ذالك على الله بعزيز

رمضان المبارك ۲۰- ۱۴۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اول فصل

## د لمانځه اهميت په اسلام کښې

### د لمانځه تعريف او ثبوت په اسلام کښې:

لمونځ په لغت کي دوعا ته وائي يعني هغه دُعاء چي په خير ويل کېږي لکه څرنګه چي خدای [ج] فرمائي: **وصل عليهم انَّ صلوٰتك سكن لهم** ([1])

ژباړه: ای محمده [صلی الله عليه وسلم] ته مؤمنانو ته دُعا وکړه يعني دوي ته دعوت ورکړه په خير سره چه دغه دُعا يا دعوت ورکول ستا دوی ته ارامتيا او هوسا ژوند ور په برخه کوي چي ايمان راوړل دي. ليکن ځيني علماء لمونځ په معنٰی د رحمت سره ترجمه کوي، خو د يادوني وړ خبره داده هغه کوم تحقيق چي د لمانځه د لفظ په رابطه په لغوي معنٰی سره د اوسني وخت او عصر علماء او محققين او خصوصاً د مدرسو استادان او محققين پدې رابطه تحقيق کوي دوي وائي چي (صلاة) د لغوي معني په لحاظ په څلورو معنٰی ګانو راغلی دی.

١ په هغه وخت کي چي نسبت د (صلاة) خدای[ج] ته وشي په معنٰی د رحمت دی.

٢ په هغه وخت کي چي نسبت د (صلاة) حضرت محمد [ص] ته وشي په معنٰی سره د درود دی.

---

[1] د توبه صورت ١٠٣ آيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ په هغه وخت کي چي نسبت د (صلاة) عامو مؤمنانو ته وشي په معنٰی د مغفرت راځي.

۴ په هغه وخت کي چي نسبت د (صلاة) حیواناتو لکه څناور او مرغانو ته وشي په معنٰی د تسبیح او تحلیل راځي.

**لمونځ په اصطلاح کښي:** د فقهي علماؤ په اصطلاح کښي لمونځ هغه خاص قولونه او فعلونه دي چي په تکبیر تحریمه سره شروع کیږي او په سلام ګرځولو سره پاي ته رسیږي.

## دلمانځه ثبوت په قرآنکریم سره

لمونځ په قرآن کریم او د حضرت پیغمبر [ص] حدیثو او د علماؤ په اخماع سره ثابت شوي ځکه لمونځ د اسلام داساسي او مهمو بناؤ څخه دی، بل داسي عمل نشته چي په اسلام کښي دي ورته دومره زیات فضیلت او اهمیت ورکړی شوی وي. داسي چي خدای [ج] په ځینو ځایونو کي د ذکر سره راوړي لکه خدای [ج] چي فرمائي: **(ان الصلوٰة تنهٰی عن الفهشاء والمنکر و لذکر الله اکبر)**([1])

ژباړه: چي په تحقیق سره لمونځ انسان د بدو او ناوړو اعمالو څخه ژغوري او د خدای [ج] یادول لوي او غوره عمل دی.

[1] د عنکبوت صورت ۴۵ آیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ځينو ځايونو کي ئې د ذکوٰة سره متصل ذکر کړی دی لکه چي فرمائي: **و اقيمو الصلوٰة و اٰتو الذکوٰة**([1])

ژباړه: تاسي لمونځونه قائم کړی او ذکوٰتونه ورکړی پخپل وخت د ټولو شرطونو سره برابر.

همدارنګه ئې په ځينو نورو ځايونو کښې د صبر سره ذکر کړی دی

لکه چي فرمائي: **واستعينو بالصبر والصلاته و انها لکبيرة الا على الخاشعين** ([2]) **ژباړه:** تاسي کمك وغواړی په صبر او لمانځه سره په تحقيق سره دغه لونځ لوی او دروند بار دی مګر نه په هغه مؤمنانو چي خشوع او عاجزي کوي او د خدای تعالیٰ امورو ته ئې غاړه ايښې وي. همدارنګه په ځينو ځايونو کې د (بر) د نېکو عملونو سره ذکر شوی لکه څرنګه چي خدای [ج] فرمائي: **قد افلح المؤمنون الذين هم في صلاتهم خاشعون**([3]) **ژباړه:** په تحقيق سره خلاصون او بري موندونکي دي مؤمنان، هغه کسان چي په خپلو لمونځونو کښې عاجزي کونکي وي.

## د لمانځه ثبوت په حديثو سره

زيات داسي حديثونه ذکر شويدي چي د لمانځه ثبوت او يا فرضيت تري څرګندېږي، لکه حضرت ابن عمر [رض] پدې هکله حديث نقل کړی او فرمائي:

---

[1] د البقره صورة ١١٠ ايت.
[2] د البقره صورة ٤٥ آيت.
[3] د المؤمنون صورة ١ آيت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عن النبي صلى الله تعالٰى عليه وسلم قال: (بنى الاسلام علٰى خمس: شهادة ان لا الٰه اِلّا الله و ان محمد الرَّسول الله ـ و اقام الصلوٰة وايتاءِ الذكوٰة ـ و صوم الرَّمضان ـ و حج البيت من الستطاع اليه سبيلاً)** متفق عليه([1]) حضرت عبدالله ابن عمر [رض] د رسول الله [ص] څخه نقل کړېدی چي وائي: رسول الله [ص] فرمائي اسلام په پنځو شيانو بناء دی: شاهدي ادا کول پدې سره چي نشته هيڅ لائق او مستحق د عبادت مگر يو خدای [ج] دي او محمد صلى الله عليه وسلم د هغه را استول شوی رسول دی دلمانځه ادا کول،د زکوٰة ورکول، د روژې نيول، او د بيت الله شريفي حج کول دي هغه چاته چي د لاري د تگ او راتگ توان ولري.

## دلمانځه د فرضيت ثبوت دامت په اجماع سره

له درې گونو دلائلو څخه چي د لمانځه ثبوت ورباندي کېږي د علماؤ اجماع ده ځکه اجماع د علماؤهم پدې دلالت کوي چي علماء پدې اتفاق لري چي په يوه شپه او ورځ کي پنځه وخته لمونځ فرض سوی دی([2]).

### د لمانځه د فرضيت تاريخ:

د لمانځه د فرضيت د وخت په هکله زيات نظرونه او مختلف قولونه موجود دي خو ليکن هغه مختار او غوره مفتٰى بهِ قول د فقهي علماؤ په نظر دادی چي لمونځ د (ليلية الاسراء) د معراج په شپه د هجرت څخه پنځه کاله مخکي فرض شوی دی خو

[1] الحسين ابن مسعود مشکوٰة المضابيح لمړی ټوك ۱۲ مخ اکرميه کتابتون پيښور د چاپ کال ۱۳۶۹ ه ش
۱ وهبه زهيلي ـ فقه اسلامي وادلته لمړی ټوك ۴۹۷ مخ حقانيه پيښور ب ـ ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عام برا تاریخ پوهان هم پدې نظر دي چي د لمانځه د فرضیت د تاریخ په نبوي حدیثونو همدغه مفتٰی بِهِ قول ثابت دی لکه چي حضرت رسول الله [ص] فرمائي: **فرضت الصلوٰة علٰی النبي صلی الله علیه و سلم الصلات لیلة الاسرٰی به خمسین هم نقصت حتّی جعلت خمساً ثم نوري یا محمد انه لا یبدل القول لدیه و انك بهذا الخمسته خمسین** (٢)[1]

حضرت انس [رض] نقل کوي چي فرمائي: په رسول الله [ص] د معراج په شپه پنځوس لمونځونه فرض شول ـ بیا وروسته کم شول آن تردې چي پنځه لمونځو ته ورسېدل او بیا وویل شول اي محمده [ص] نه تغیر کېږي د خدای [ج] یو قول او تا ته په دغه پنځو لمونځونو د پنځوسو لمونځونو اجر درکول کېږي نو ددغه حدیث د مفهوم څخه معلومېږي چي لمونځ د معراج په شپه فرض سوی دی، لیکن بیا هم علماء پدې هکله مختلف نظرونه لري:

١ـ د احنافو علماؤ نظر: د احنافو علماؤو نظر دادی چي لمونځ د معراج په شپه د شنبې په ورځ په اوولسم د روژې یونیم کال د هجرت څخه مخکي فرض سوی.
٢ـ حافظ ابن هجر [رح]: د حافظ ابن حجر (رح) نظر پدې هکله دادی چي وائي لمونځ په اوه ویشتم د رجب فرض شوی دی او همدغه نظر اکثره علماؤ هم تائید کړی دی چي لمونځ په هر عاقل، بالغ او مسلمان باندي فرض دی نو کله چي واړه هلکان اووه کلنۍ ته ورسېږي(٣). نو دوي باید پدې مامور کړل سي او کله چي لس کلنۍ ته ورسېږي باید پرې ووهل سي بیا هم په یوه شپه او ورځ کي پر یوه مسلمان عاقل بالغ باندي پنځه لمونځونه فرض سوي دي او پدې کي د علماؤ هیڅ خلاف

٢ متفق علیه محمد بن علي شوکائي ـ نیل الا وطار ـ لمړی ټوك ٣٦١ مخ ـ دار الجیل بیروت د چاپ کال ١٩٧٣

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته بلکي غير د هغه فرض سويو لمونځنو څخه نور نه لازميږي مگر هغه وخت چي يو شخص پخپل ځان باندي نذر کړی وي. نو له دغو پنځو لمونځونو څخه نه کميږي او نه زياتيږي. ([1])

ځکه په دې اړوند د حضرت معاذ [رض] حديث دی چي کله رسول الله عليه وسلم يمن ته ولېږل او ورته وئې ويل چي (**اخبرهم ان الله تعالی فرض عليهم خمس صلوٰة في کل يوم و ليلته**([2]) يعني ته خبر ورکړه مسلمانانو ته چي په تحقيق سره خدای [ج] په يوه شپه او ورځ کي پر تاسي پنځه وخته لمونځ فرض کړی دی نو د همدغه دليل پر اساس ئي تعين د عدد هم وسو.

۴ وهيه زهيلي ـ فقه اسلامي وادلته لمړی ټوك ۴۹۹ مخ حقانيه پيښور.
۵ امام صنعاني ـ سل الاسلام لمړی ټوك ۱۲۰ مخ بيروت دارالغته ب ـ ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لمانځه د فرضیت حکمتونه

**د لمانځه د فرضیت حکمتونه زیات بیان سوي دي چي په مختصر ډول ورته اشاره کوو:**

د (شهادتین) د کلیمو څخه وروسته په دوهم قدم کي لوي او درووند مسئولیت لمونځ دی ځکه یو شمېر زیات حدیثونه پکښې راغلي دي چي د هغه جملې څخه د حضرت جابر [رض] حدیث دی ـ چي فرمائي: *عن جابر رضي الله تعالیٰ عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال بین الرجل و بین الکفرترک الصلوٰة* (۱).

ژباړه: حضرت جابر [رض] د رسول الله [ص] څخه روایت کوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي چي فرق په منځ د یو سړي او په منځ د کفر د هغه سړي د لمانځه پرېښودل دي یعني مطلب دا دی چي د یو شخص د کفر او اسلام تر منځ توپیر په لمانځه سره دی. نو بالاخره مفهوم د دغه حدیث داسي راځي چي هغه څوك چي لمونځ کوي هغه ته مسلمان ویل کېږي او هغه څوك چي لمونځ ئې پرېږي ایښی وي ددې حدیث څخه ئې کفر ثابتېږي ـ پر دې سربېره بیا هم د علماؤ نظر پدې رابطه زیات تفاوت لري چي په راتلونکو مطالبو کښې به روښانه شي.

همدارنګه لمونځ د خداي [ج] د نعمتونو د شکر اداء کول دي چي علماؤ ئي زیاتي فائدې بیان کړیدي مثلاً لکه اجتماعي ـ شخصي ـ دیني چي په وروستنۍ برخه کښې به ان شاء الله هر یو له دغو فائدو څخه په مفصل ډول سره بیان کړو:

---

۱ متفق علیه ـ الحسین ابن مسعود مشکوٰة المضابیح لمړی ټوك ۶۱ مخ اکرهیه پېشور د چاپ کال ۱۳۶۹ ه ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- د لمانځه ديني ګټې:

يو له هغه شمېر فائدو څخه ديني فائدې دي ځکه چي لمونځ د خدای [ج] او بنده تر منځ د نژدېوالي او پيوستون اړيکي دي.هغه خوند او لذت چي د خدای[ج] او بنده تر منځ په لمانځه کښي دی، په نورو شيانو کي نشته. همدارنګه د خدای[ج] د ربوبيت اظهار، د ژوندانه چارو سپارل، د رحمتونو امېد او د ديانت لاره ده ځکه چي عبادت کول د کاميابۍ او رسته ګارۍ لاره ده يعني د ګناهونو توئېدل دي. همدارنګه خدای [ج] د لمانځه د ديني فائدې په هکله فرمائي: [قد افلح المؤمنون الذين هم في صلاتهم خاشعون] (۱)

ژباړه: په تحقيق سره کامياب او لاره موندونکي دي مؤمنان هغه کسان چي دوی په لمونځونو کښې تواضع او عاجزي کوي.

همدارنګه ددېني ګټو څخه د لمانځه په هکله زيات حديثونه بيان شوي دي. د بېلګي په ډول يو حديث ذکر کوو تر څو د مدعٰی اثبات ورباندي وسي: [عن ابي هريره رضي الله تعالٰی عنه قال ـ قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ارائتم لو ان نهراء في باب احد کم يغتسل فيه کل يوم خمس مرءاة هل يبقّی من درنه شيء؟ قالو لا يبقّی من درنه شيء قال فکذالك مثل صلاة خمس يمح الله بهن الخطايا] .(۲)

ژباړه: ايا تاسي خبر یاست که چېري د يوه سړي په دروازه کښي جاري لښتی روان وي. پدې لښتي کښې په يوه شپه او ورځ پنځه ځله غسل کوي ايا کوم چټلي به ددې سړي په وجود کي پاتي سي؟

---

۱ د المؤمنون سوره لمړی آيت.

۲ متفق عليه ـ الحسين ابن مسعود مشکوۃ المضابيح لمړی ټوك ۶۰ مخ اکرهيه پېشور د چاپ کال ۱۳۶۹ ه ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحابهٔ کرامو ورته وویل نه! ددي سړي په وجود کي به هیڅ چټلي پاته نشي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چي همدارنګه پنځه وخته لمونځونه دي، څوك ئې چي ادا کړي نو ددې لمونځ کونکي په وجود کي به چټلي پاتي نسي او ګناهونه به ئي ټول په همدغه لمانځه له منځه ولاړ شي.

بالآخره په نتیجه کي دا خبره معلومه سوه چي د لمانځه د زیاتو ګټو څخه یوه د یني ګټه ده چي په همدې ګټي سره ګناهونه له منځه ځي او د خدای[ج] په نزد ددې شخص نوره مرتبه لوړېږي.([1])

۲ ـ د لمانځه شخصي ګټې:

دا چي د لمانځه ګټې د اسلامي فقهي علماؤ زیاتی ذکر کړي بلکي ټولو علماؤ هر ډول ګټې ذکر کړي چي د هغې جملې څخه شخصي ګټې دي. د لمانځه په شخصي ګټو سره د خدای [ج] او بنده تر منځ نژدېوالی راځي، څرنګه چي خدای [ج] په دې هکله فرمائي: ( **وما خلقت الجن والانس الا لیعبدون** ) ([2]).

ژباړه: ما ندی پیدا کړي پېریانان او انسانان مګر د عبادت لپاره مي پیدا کړي چي دوي عبادت وکړي.

دا چي په لمونځ کولو کي د نفس او ارادې تقویه راځي لمونځ کوونکي ته غیرت پیدا کېږي د خدای [ج] په نزد سره. ددونیا څخه ئې زړه پورته کېږي هغه کومي غوښتني چي د انسان دي که نفساني وي لکه مال. دولت، قدرت، چوکۍ دا ټول د لمانځه په سبب سره د انسان څخه لېري کېږي یعني لمونځ کونکی ددې څخه خلاصېږي د ګمراهي شیطاني وسوسو او غولولو څخه د لمانځه په سبب سره

---

۱ وهیه زحلي ـ فقهي اسلامي وادیته لمړی ټوك ۵۰۰ مخ حقانیه پېښور ـ ب ـ ت.
۲ د الذاریات سوره ۵۶ آیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان محفوظ پاته کېږي. همدارنگه په بل ځاي کښې خداي [ج] د لمانځه په هکله فرمائي: **واستعينو باالصبر والصلوة و انها لكبيرة الا على الخاشعين** ([1]).
يعني تاسي كمك وغواړئ په صبر او لمانځه سره په تحقيق سره دا لمونځ چي دى دا يو لوي او دروند بار دى مگر نه پر مؤمنانو او مسلمانانو باندي بلكي پر مسلمانانو او مؤمنانو باندي بار او پېټى ندى چي ورسره په تكليف سي ـ بلكي څنگه چي دوي نور هم خوند اخلي د خداى[ج] په اطاعت سره.
لكه څرنگه چي په لمانځه كي راحت، نفسي او روحي آرامي انسان ته حاصلېږي او د غفلت څخه لېريوالى راځي. همدارنگه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه نقل راغلى چي فرمائي: زما ددنيا له شيانو څخه دوه شيان ډېر خوښ دي چي يو ښځې (خپلي مېرمني) او بل خوشبوي يعني عطري شيان دي او زما لپاره د سترگو يخوالى لمونځ دى، يخوالى د سترگو كنايه ده له اوښكو تويولو څخه. په يو بل حديث كي دې ته هم اشاره شوېده چي كه چيري په لمانځه كي د سترگو څخه اوښكي لاړي شي خو غير د اواز پورته كولو څخه وي لمونځ نه فاسدېږي واقعاً چي لمونځ بايد داسي د زړه په حضورسره وشي چي سترگي پكښې يخي شي په همدې هكله په يو بل حديث كي هم دغه عنوان ته اشاره ده لكه په كوم وخت كي به چي په رسول الله صلى الله عليه وسلم خفگان او پرېشاني راغله نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به حضرت بلال رضي الله تعالى عنه ته وويل چي خوشحاله كړه موږ په لمانځه سره اى بلاله. همدارنگه د لمانځه لپاره ددين علماؤو زيات تكليفونه ايستلي دي بلكي نوشتې ئې پكښي كړي او زياتي فائدې ورته بيان كړي، مثلاً

---

١ د البقره سوره آيت ۴۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه انسانيت ښودل يوه انسان ته دا واقعي خبره ده چي انسانيت او اخلاق انسان ته په لمانځه کي ښودل کېږي ځکه د لمانځه څخه لوي د راز ځاي بل د انسان لپاره نشته ځکه په بل هيڅ داسي عمل کي د خداى [ج] سره دومره په خفي او پټه اندازه سره راز نشته بلکي د لمانځه د ارکانو او شرطونو څخه ئې اقتباس کېږې. همدارنگه د انسان زړه د خداى [ج] سره تړلی وي د خداى[ج] د طرفه ورته هدايت کېږي صحيح او مستقيم لاري ته انسان برابرېږي.

خو ددې حديث د مضمون په رڼا کي مولانا محمد ذکريا صاحب دهلوي ليکي: وائي لمونځ د خداى [ج] لوى رحمت دی په هر وخت کي چي يو سړی د پرېشانۍ او خفگان سره مخامخ شي نو دا همدغه معنٰى لري چي د خداى [ج] د لوى رحمت سره مخامخ سوی. نو هر چاته چي د خداى [ج] رحمت مخامخ او د لوى خداى [ج] رحمت پرې وشي نو ايا داسړي ته به بيا پرېشاني اوخفگان پاتي وي؟ بلکي نه و رته پاتېږي.

همدارنگه مولانا ذکريا صاحب د حضرت ابو داؤد رضي الله تعالی عنه څخه د يوه حديث په مضمون کي نقل کوي چي په هر هغه وخت کي به چي سخت او شديد باد ولگېدی نو حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم به جماعت (مسجد) ته تشريف يووړ او لمونځ به ئې شروع کړ تر څو چي به باد نه وو بند شوی او د مسجد څخه به نه وتلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه د حضرت ابو داؤد رضي الله عنه څخه د يوه حديث په مضمون کي نقل کېږي ([1])- چي رسول الله صلی الله عليه وسلم لمړنيو پيغمبرانو هم داغه عادت وو چي په کوم وخت کي به پريشاني ورباندي راغله او ورسره مخامخ به سول دوی به هم مسجد ته تلل او هغه خفګان يا پرېشاني به چي پرې راغلې وه هغه به ئي په لمانځه سره لېري کوله.

همدارنګه د خضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه يوه ورځ په سفر روان وو په لاره کي خبر سو چي زوي ئې وفات سوی پر اوښ سپور وو له هغه څخه راکښته سو او دوه رکعته لمونځ ئې وکړ لکه څرنګه چي خدای [ج] ماته امر کړی وو، کله چي د لمانځه د شخصي ګټو اړوند بحث روان دی نو ددې حديثونو له مضمونو څخه بهتره معلومه سوه چي لموځ دانسان د ټولو امورو لپاره وقار ، سکون او د زړه اطمينان دی ذکر سويو شيانو څخه انسان ته پرې حاصلېږي.

څنګه چي مو پدې اړوند تفصيل ډير وکړ، ددې ټولو امورو عملي کول ډېر مهم دي بيا هم بعضي مسائل پيدا کېږي د اوسني عصر سره تطبيق کېدای شي. نو په همدې اساس زموږ ددې عنوان بحث ځکه زيات دوام پيدا کړ. ([2])

**۳ په ټولنه (اجتماع) کښې د لمانځه ګټې:**

يوه له هغو ګټو څخه چي د لمانځه لپاره علماؤ ذکر کړي هغه په ټولنه کي دي چي آيا لمونځ په ټولنه کي څه اثر لري؟ هغه تاءثيرات چي په لمانځه سره مرتب کېږي

---

۱ الخاشعين ـ د الخاشعين صحيح معنٰی داده چي دوی خوند اخيستونکي دي په اطاعت د خدای [ج] سره ـ سفير مير ميتن شرفين لومړی ټوک ۳۳ مخ.

۲شيخ الحديث مولانا محمد ضيا ـ فضائل اعمال لمړی ټوک ۱۳ مخ صداقت پزطريمان اکاډيمي د چاپ کال ۱۹۸۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه يووالى او ټينګښت د اسلامي عقيدې او د همدې عقيدې تقويه کول د ټولني د خلکو په نفسونو کي.

همدارنګه د اجتماعي يا ټولنيزو چارو تنظيم، تر تيب، د اسلامي عقيدې او فکر يووالى د ټولنيزو اړيکو ټينګښت او يو د بل احوالو څخه ځان خبرول دي. ځکه چي انسان د يوه جسد په مثال سره دى ـ په کوم وخت کي چي د انسان يو اندام مريض شي، ټول جسد د انسان په درد او نالښت سره وي. بناء په همدې اساس لمونځ هم په ټولنيزو چارو کي زياته همکاري لري لکه څرنګه چي دوکتور وهبه ئې د تعريف په شکل سره بيانوي وائي چي لمونځ د توصل عقد د خداى [ج] او خپل بنده تر منځ راولي، ځکه نو نرم والى د زړه هم انسان ته پيدا کېږي. په کوم وخت کښې چي د زړه د نرم والي آثار پرې مرتب سول نو بياء په همدې اساس په ټولنيزو چارو کي انسان يو له بل سره همکاري، باالآخره په نتيجه کې اسلامي عقيدې او روحيه د ټولني په خلکو کي قوت پيدا کوي.

همداراز د جماعت په لمانځه کي هم زيات ذکر شوي دي چي د هغه د جملې څخه د يوه قوي صفت جوړول او په ټولنه کي د ټولو غړيو په على السويه شکل سره ژوند کول دي د توحيد د کليمي يووالى په عامه چارو کي د ټولني د غړيو په شرعي چارو کښې د امير په پيروي ازموينه ده په هغو چارو کي چي په هغه سره خداى [ج] خوښ وي او هغه اساسي عمده هدفچي د خداى[ج] د رضا سبب ګرځېدلي وي([1])

**لکه څرنګه چي مسلمانان په همدې نښه او علامه سره پېژندل کېږي او ددوى تر منځ اړيکي، بلکي معرفت او پېژندګلوى راځي يو د بل د معاملاتو څخه استفاده کوي او د**

١ وهبه زحلي ـ فقه اسلامي وادلته لومړى ټوك ٥٠١ مخ حقانيه پېښور ب ـ ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښو اخلاقو څخه ئې عبرت او پند اخلي د بې وزلو مسکینانو د احوال څخه ځان خبروي.** (۱)

نو بنا په همدې اساس د مسجد تاءسیس د همدغه ډول گټو څخه دی، یعني د مسجد جوړول او تاءسیس هم پدې هدف سره سوی چي مسلمانان یو دبل د امورو څخه ځانونه خبر کړي او شرعي چاري پکښې اجراء سي لکه لمونځ په جماعت سره دعوت او تبلیغ ـ امر باالمعروف او نهي عن المنکر، د قرآن کریم احکام پکښې بیان سي هغه شرعي خلاوي او نقصانونه چي په خلکو کي وي هدایت ورته ورکړل شي تر څو هغه اصلاح کړي.

همدارنگه پدې هکله زیات حدیثونه بیان شوي چي د هغو څخه د یوه حدیث مضمون را اخلو چي حضرت پیغمبر [ص] فرمائي: ( یو مؤمن د بل مؤمن لپاره داسي مثال لري لکه ټولني او یا کورونه چي بعضي ئي بعضي نور تقویه کوي او یو له بل سره تړل سوي وي او یو پر بل محکم وي.)

باالأخره دې نتیجې ته سره رسېږو چي په ټولو اعمالو کي یوازي او یوازي لمونځ دي چي د ټولني په خلکو کي زیات اثر لري.( 2)

همدارنگه مولانا محمد زکریا دهلوي صاحب په خپل کتاب فضائل اعمال کي د یوه حدیث مضمون د شمارې په طرز سره لیکي او د لمانځه ټولنیزي گټي داسي بانوي:

۱- لمونځ د کفر او اسلام تر منځ یوه پرده ده.

۲- لمونځ د مسلمان علامه یا نښه ده.

---

۱ وهبه زحلي ـ فقه اسلامي وادلته لومړی ټوك ۵۰۱ مخ حقانیه پېښور ب ـ ت.
۲ لومړنی مرجع لومړی ټوك ۵۰۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- لمونځ شیطان له منځه لېري کوي او انسان د شیطان څخه خلاصوي.

۴- لمونځ د مؤمن نور دی.

۵- لمونځ بهترین جهاد دی.

۶- په هغه وخت کي چي انسان په لمانځه کښي داخل سي خدای[ج] هغه ته زیات متوجه وي.

۷- په هغه وخت کي چي یو انسان لمونځ وکړي او وروسته د لمانځه څخه د خدای [ج] څخه خپل حاجت وغواړي خدای [ج] ئي هغه حاجت پوره کوي.

۸- خدای [ج] د سجدې ځایونه (اندامون) له اوره په امان کړیدي.

۹- په هغه وخت کي چي یو آفت د آسمانه څخه راکښته سي خدای (ج) لمونځ کونکی ځیني ساتي، او پر دې سربېره نوري ګټې ئې هم زیاتي دي چي پخپل وار سره علماؤ بیان کړي، کېداي سي دا کفایت وکړي او د پوهني علاقه لرونکیو لپاره د خستګۍ سبب ونه ګرځي. [1]

## دلمانځه د تارک (پرېښودونکي) حکم

لمونځ په چا فرض دی: د لمانځه پرېښودونکي لپاره په قرآن کریم او نبوي صلي الله علیه وسلم حدیثونه او اسلامي فقه کي زیات مفصل او مشرح احکام او عذابونه بیان سویدي.

---

۱ مولانا محمد زکریا دهلوي فضائل الاعمال لومړی توك ۲۶-۲۷ مخونه صداقت پرنتز پیمان اکاډمي پېښور دچاپ کال ۱۹۸۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اول ضرور داده چي معلومه کړو ترڅو مستحق ددې فريضي څوك دی او لمونځ په چا فرض سوی دی چي په نتيجه کي دا حکم په يوه سرې وکړو چي آيا دا شخص د لمانځه پرېښودونکی دی او که نه؟

دا خو يو روښانه حقيقت دی او پدې دعلماؤ اتفاق سوی دی چي لمونځ په عاقل ـ بالغ ـ مسلمان ـ طاهر (يعني دحيض، نفاس څخه به خلاص وي او بې هوشه به هم نه وي) پدې نوع خلکو لمونځ فرض سوې ځکه چي لمونځ يو بدني عبادت دی چي نيابت نه قبلوي نه صحيح کېږي چي يو شخص د بل شخص لمونځ اداء کړي.([1])

همدارنگه استاد شيخ سيد سابق [رح] پدې هکله په خپل کتاب فقه السنة کښې ليکلي او يو حديث د نيل الاوطار څخه په لاندينيو الفاظو نقل کوي:

عن عائشة رضي الله تعالی عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: (رفع القلم عن ثلاث ـ عن النائم حتّى استقظ، و عن الصبي حتّى يحتلم و عن المجنون حتّى يعقل. (رواه احمد واصحاب السنن والحاكم.)(۲)

ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله تعالى عنها څخه روايت سويدی وائي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي چي قلم له دريو کسانو څخه پورته سوی ۱ـ ويده سړی تر څو بيداره سوی نه وي ۲ـ وړوکی هلك تر څو چي بلوغ ته نوي رسېدلی ۳ـ لېوني تر څو چي جوړ سوی نه وي. (رفع القلم) کنايه د عدم مکلفيت څخه ده ددې حديث څخه بهتره معلومېږي چي لمونځ په ټولو مسلمانانو فرض سوی مگر نه هغه کسان چي د پورتني حديث ورڅخه استثناء کړي او يا مثلاً د فقهي فروعو ترې استثناء کړې لکه صاحب العذره، حيض، نفاس او داسي نور.

۱ دوکتور وهبه زحلي فقه اسلامي واديته لومړی ټوك ۵۰۲ مخ حقانيه پېښور ب ـ ت.
۲محمد بن علي شوکافي نيل الاوطار لومړی ټوك ۳۷۸ مخ دارالجليل بيروت د چاپ کال ۱۹۷۳م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته یاد شوي کسانو ته د موجوده عذر په اساس مکلفیت نه ورته متوجه کېږي. خو ددې څخه علاوه په ټولو مسلمانانو لمونځ فرض سوی دی غیر له فرق څخه او د لمانځه پرېښودونکي ته خداي [ج] لوي او عظیم عذاب بیان کړی دی چي په راتلونکي مطلب کي به ان شاء الله په مفصله توگه بیان شي. لومړی مو دا یاد کړل چي آیا د لمانځه د فرضیت حکم چاته متوجه او مخاطب پرې ثوك دی.

غواړو چي په هغه موضوع سره بحث وکړو چي د لمانځه پرېښودونکی د فقهي علماؤ له نظره څه حکم لري. دا خبره د اسلامي فقهي علماؤ ثابته کړې او د علماؤ اتفاق (اجماع)پرې شوي چي ثوك د فرضیت د لمانځه څخه منکر سي نوموړی شخص کافر او مرتد گڼل کېږي. ځکه ددې په خاطر چي د لمانځه فرضیت په قطعي دلائلو لکه قرآن ـ سنت ـ اجماع ثابت سوي بلکي هغه ثوك ئې چي د سستۍ یا اهانت له وجهي پرېږدي ذکر سوی شخص فاسق گڼل کېږي او پریښودونکي د لمامنځه د نیوي او اخروي عذابونه واجبوي هر چي اخروي عذابونه دي لکه پدې اړوند چي خدای [ج] فرمائي: (ماسلککم في سقر؟ قالو الم نك من المصلين) ([1])

ژباړه: وبه وائي منکران د مؤمنانو په ځواب کي چي نه وو موږ په دُنیا کي له لمونځ کونکیو څخه. همدارنگه خدای [ج] د لمانځه د پرېښودونکي لپاره په بل آیت کي داسي عذاب بیان کړی دی (فويل اللمصلين الذين هم عن صلوٰتهم ساهون)([2])

یعني پس هلاکت کنده ددوزخ یا خرابي لپاره د لمونځ کوونکي هغه کسان چي دوي دخپل لمانځه څخه غافله او بې خبره وي. (په خپلو اوقاتو او ادابو سره ئي نه

۱ د المدثر سوره ۴۳ آیت.
۲ د الماعون سوره ۵-۴ ایتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداء کوي) همدارنګه حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لمانځه د پرېښودونکي په هکله د يوه حديث په مضمون کي پداسي الفاظو سره عذاب بيان کړی: حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمائي! څوك چي په قصد سره لمونځ پرېږدي د خدای [ج] او رسول الله صلی الله عليه وسلم د زمې څخه خلاص شو.

په همدې ډول د لمانځه د پرېښودونکي اړوند يو شمېر احاديث را اخلو تر څو موضوع ښه روښانه شي:

١- عن جابر رضی الله تعالٰی عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: (بين الرجل و بين الكفر ترك الصلوٰة) ([1])

ژباړه: حضرت جابر رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي وائي چي د يوه سړي او دهغه د کفر تر منځ فرق په لمانځه سره دی يعني دمسلمان او کافر تر منځ فرق لمونځ دی. ددې حديث څخه په صراحت سره استنباطېږي چي څوك لمونځ نه کوي هغه کافر ګڼل کېږي.

**٢ ـ قال محمد بن نصر المروزي سمعت اسحاق يقول: صح عن النبي صلى الله عليه وسلم (ان تارك الصلاة كافر.)** ([2])

ژباړه: محمد د نصرمروزي زوی وائي چي ما د اسحاق څخه اوريدلي دي چي ددې حديث صحت د رسول الله صلی الله وسلم څخه سوی چي فرمائي (پرېښودونکی د لمانځه کافر دی).

همدارنګه شيخ سيد سابق په خپل کتاب فقه السنة کي ليکلي چي: زيات اهل علم پدې نظر دي چي د لمانځه پرېښودونکی په قصد سره غير له عذر څخه حتٰی تر دې

---

١ الحسين ابن مسعود ــ مشکوٰة المصابيح ــ لومړی ټوك ٦١ مخ ـ اکرميه پېښور د چاپ کال ١٣٦٩ ه ش.
٢ محمد بن علي شوکاني ـ نيل الاوطار ـ لومړی ټوك، ٣٧١ مخ ـ دارالجمل بيروت د چاپ کال ١٩٧٣ م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري چي وخت ئي هم تير شي نو نوموړی د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم په نزد سره کافر گڼل کیږي. همدارنگه شیخ سید سابق زیاتوي چي زه د چا په مخالفت نه یم پوه سوی، د صحابه کرامو څخه نوموړی زیاتوي چي منذري په ترغیب الترهیب کي لیکلي چي یوه ډله له وروستنیو صحابه کرامو څخه پدي نظر دي چي څوك لمونځ په قصد سره پریږدي ترڅو ټول وخت د لمانځه تیر شي دا شخص کافر گڼل کیږي. ددي شمیري صحابه وو څخه عمر بن خطاب ـ عبدالله ابن مسعود ـ عبدالله ابن عباس ـ معاذ بن جمل ـ جابر بن عبدالله دي.([1]) خود فقهي علماؤ د شمیري څخه احمد بن حنبل، اسحاق بن راهویه ـ عبدالله بن مبارك نخعي ـ حکم بن عتبه ـ ابو داؤد الطیالسي او داسي نور هم شته چي دا نظریه ئې نوره هم ټینگه کړې او فتوٰی ئې پرې ورکړې چي دلمانځه پرېښودونکی په قصد سره کافر دی. بلکي نور احادیث هم پدې هکله زیات ذکر شوي دیچي د هغوي له دلالت څخه هم دا معلومیږي چي د لمانځه پرېښودونکی په قصد سره کافر او مرتد گڼل کیږي.([2])

همدارنگه کوم وخت چي موږ دا حدیثونه ذکر کړل چي د لمانځه پرېښودونکی په قصد سره مرتد یا کافر گڼل کیږي، نو ضرور خبره داده چي آیا وژل د ذکر سوي شخص څه حکم لري؟ که چیري دا پرېښودونکی د لمانځه په قصد سره څوك ووژني؟ یو شمیر علماء د بعضي حدیثونو د ښودني په اساس سره د لمانځه پرېښودونکی وژل په قصد سره جوازورکړی که څه هم د مذهبونو په هکله به ان شاالله په راتلونکي کي په د هر مذهب د عمل سره سم دا مسائل ټول وڅیړل شي خو

---

۱ سید سابق (رح) فقه السنته لومړی ټوك ــ ۹۲ مخ ــ دارالفکر ــ د چاپ کال ۱۴۰۳ څلورم چاپ.
۲ شیخ سابق (رح) فقه السنته لومړی ټوك ــ ۹۲ مخ ــ دارالفکر ــ د چاپ کال ۱۴۰۳ څلورم چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم د هغي شمېرې حدیثونو څخه یو تعداد پدې ځای کي د مثال په توګه ذکر کوو تر څو ددې مسئلې نتیجه صحیح او مثبته معلومه شي چي د لمانځه پرېښودونکی په قصد سره کافر او یا مرتد ګڼل کېږي.

اوس غواړو چي یو تعداد هغه حدیثونه ذکر کړو چي د لمانځه د پرېښودونکي وژل فقهي علماؤ واجب ګڼلي.

**۱ـ عن ابن عباس رضي الله تعالی عنه ـ عن النبي صلی الله علیه و سلم قال: (عرٰی الاسلام و قواعد الدین ثلاثة: علیهن اسس الاسلام من ترك واحدة منهن فهو بها کافرحلال دم: شهادة ان لا اله الا الله و صلوٰة مکتوبته و صوم رمضان رواه ابو یعلي باسناد حسن و في روایته اخرٰی (من ترك منهن واحدة بالله کافر لا یقبل منه صرف و لا عدل([1]). و قد حل دمه و ماله)**

ژباړه: حضرت ابن عباس [رض] د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل کوي: وائي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائي: د اسلام غوټې او ددین قاعدې درې شیان دي چي په همدې غوټو او قاعدو سره اسلام بناء سوی دی. څوك چي یو له دې قواعدو او بناؤ څخه پرېږدي همدغه شخص کافر ګڼل کېږي او د وینې تویول ئې حلال دي. هغه قواعد او بناؤي عبارت دي له:

۱. شاهدي ورکول پدې چي نشته هیڅ معبود په حقه مګر یو خدای [ج] دی.

۲. فرض شوی لمونځ دی.

۳. روژه نیول دي. او په بل روایت کي راغلي څوك چي یو له دې دریو شیانو څخه پرېږدي ذکر شوی شخص په خدای [ج] سره کافر دی.

---

۱ صرف والعدل: قبول به نشي ترې فرضونه او نفلونه ئې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چي پدې حديث کښې درې شيان ذکر شوي يو د هغه شمېرې څخه لمونځ دی. څرنګه چي ددې حديث د مفهوم څخه معلومېږي همدارنګه ذکر شوی حديث د هغه تعداد علماؤ دليل دی چي د لمانځه پرېښودونکی ته کافر وائي نو بناءً ددې حديث په دليل سره د لمانځه پرېښودونکی کافر ګڼل کېږي. همدارنګه پدې مورد بل حديث هم راغلی چي په همدغه مدعي د ثبوت دليل دی.

٢ــ عن ابي سعيد قال ــ بعث علّي وهو باليمن ــ الي النبي صلی الله عليه وسلم بذهبية [1] فقسمهاــ بين اربعته فقال يا رسول اتق الله ــ فقال (و يلك او لست احق اهل الارض ان يتقّی الله؟). و لی الرجل قال خالد بن وليد يا رسول الله الا اضرب عنقه ؟ فقال لا له ان يكون يصلی. فقال خالد و كم من رجل ـ يقول بلسانه ما ليس في قلبه فقال النبي صلی الله عليه وسلم (اني لم اومر ان انعقب ([2]) عن قلوب الناس ولا اشق بطونهم (مختصر من حديث البخاري ومسلم) ([3])

ژباړه: حضرت ابي سعيد رضي الله تعالی عنه روايت کړی وائي حضرت علي [رض] د رزو (طلا) يو ټوټه رسول الله [ص] ته راولېږله په هغه وخت کي چي نوموړی صحابي [رض] په يمن کښې وو بيا حضرت رسول الله [ص] د څلورو نفرو تر منځ تقسيم کړه، يو سړی ددوي څخه پورته شو وئي ويل: ای د خداي (ج) رسوله [ص] د خدای (ج) څخه وېرېږه. رسول الله [ص] په ځواب کښې ورته وويل: (هلاکت دي وي تا لره آيا زه نه يم ډېر اولـــی او احق په اهل د ځمکي کښې د خدای (ج) څخه وېرېدونکی بيا دا شخص ولاړ سو د ځاي څخه ئي حرکت وکړ ـ خالد بن

١ ذهبيته ـ د زرو ټوټه (طلا) چي مذکر او مؤنث دواړه راځي او جمع ئي اذهاب ـ ذهوب ـ ذهبان هم راتلای شي. يؤس معلوف المنجد فی اللغة ــ لومړی ټوك، ٢٤٠ مخ ـ چاپخانه معراج، د چاپ کال ١٣٦٧ ه.
٢ اثقب: سوچه او پاك.
٣ محمد بي علي شوكاني ـ نيل الاوطار ـ اومړی ټوك، ٣٦٧ مخ، دارالجيل بيروت ـ د چاپ کال ١٩٧٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولید رسول الله [ص] ته وویل: آیا زه ددې سړي سر پرې نکړم؟ رسول الله [ص] په ځواب کښې ورته وویل نه؛ (ښائي دا شخص لمونځ کونکی وي) بیا حضرت خالد بن ولید رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: ډېر خلك دي چې دوی په ژبه یو شی وائي او په زړونو کښې ئي هغه شی نه وي ـ رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کي ورته وویل: زه نه یم ماءمور سوی چي د خلکو ګېډي پرې څیري کړم او له زړونو څخه ئي چرك وباسم.

دا حدیث پدې سره دلیل دی چي لمونځ منع کونکی دی د انسان د وژلو څخه خو وژل ئې جواز نلري ځکه مانع د دې شخص د وژلو لمونځ وګرځېده او بل دلیل پدې سره دی چي د لمانځه پرېښودونکی واجب القتل دی باید ووژل سي. کېدای سي پدې هکله همدغه اندازه تحقیق کفایت وکړي او د فقهي اسلامي علماؤ نظرونه پکښې په مفصل او مشرح توګه بیان کړو چي ایا دوي په خپل منځ کي پدې هکله څه نظر لري؟ هغه داچي د لومړنیو حدیثونو څخه دا معلومېږي چي د لمانځه پرېښودونکی په قصد سره غیر له عذر څخه کافر ګڼل کېږي وژل ئي جواز لري بلکه کومه ګناه هم پکښې نشته لکن بیا هم علماء پدې هکله ځانګړي نظـــــرونــــــه لـــــــري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلامي فقهي د علماؤ نظرونه د لمانځه د پرېښودونکي په هکله

لکه څرنگه مو چي لومړی حديثونه او آياتونه ذکر کړل چي د لمانځه پرېښودونکی په قصد سره په صريح ډول سره د هغه کفر ثابتېږي او د لمانځه پرېښودونکي (قتل) يعني وژل ئې جواز لري او بلکي واجب القتل دی.

لکن بيا هم ځيني علماء يا مذهبونه پدې سره توافق نلري ځکه چي دوي د خپلو استنباط شويو دلائلو سره استناد کوي. نو غواړو د علماؤ مناظرې يا اختلاف د نظر چي پدې هکله منځ ته راغلی دي په مفصله توگه بيان کړو:

### ۱- د حضرت امام اعظم ابو حنيفه [رح] مذهب:

پدې هکله امام صاحب وائي چي د لمانځهٔ پرېښودونکی د سستئ او تکاسل له وجهي څخه فاسق گڼل کېږي. ددې شخص لپاره ضرور ده چي بندي کړل شي او ښه ټينگ وتړکول شي، حتٰی چي ويني ترې رواني شي او لمونځ بيرته شروع کړي او توبه وباسي که چېري بالفرض لمونځ ونکړي او توبه هم ونه باسي په حبس يا بنديخانه کښي دي واچول شي تر څوچي په همدې حبس کي مړ شي. خو د روژې پرېښودونکی هم پدې شان حکم لري او هر چي ثبوت د کفر او يا د وژلو صورت دی لکه څرنگه چي مخکی هم ورته اشاره وسوه چي د لمانځه پرېښودونکی په قصد سره کافر او مرتد گڼل کېږي. بلکي واجب القتل دی.

که چېري د سستئ له کبله لمونځ يا روژه پرېږدي کافر نه ورته ويل کېږي تر څو چي صريح انکار ترې ونکړي، يا مثلاً په سپکه سترگه ورته ونه گوري چي په همدې ډول د لمانځه پرېښودل او يا د روژې خوړل بغير د عذر څخه دی. ځکه د امام

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحب [رح] دليل پدې اړوند دا حديث دی(لا يحل دم امرئ مسلم الا باحدي ثلاث- الثيب الزاني والنفس بالنفس والتاك لدينة المفارق بالجماعة) ([1])

ژباړه: حلال ندی د مسلمان دويني تويول مگرد دريو عملونو په تر سره کولو:

۱- سپين ږيری زاني.

۲- د مسلمان په وژلو سره.

۳- د مسلمانانو د ټولني څخه جلا کېدل.

ددې حديث د مفهوم څخه معلومېږي چي وژل او قتل ئې جواز نلري.

همدارنگه د امام صاحب نظر چي يو لمونځ کونکي ته د لمونځ کونکي لقب ورکول کېږي په څلورو شرطونو حکم کېږي:

۱- لمونځ کول په خپل وخت سره.

۲- اذان کول په خپل وخت سره.

۳- لمونځ کول په جماعت سره.

۴- سجده د تلاوت کول په وخت د اورېدلو د ايت د سجدې کښي.

## ۲. د امام احمد بن حنبل مذهب

د حضرت امام احمد بن حنبل مذهب د لمانځه پرېښودونکي په هکله داسي نظر لري چي قوي او غوره قول دی. ([۲])

اول: مسئله دکفر: د نوموړي امام په مذهب کافر گڼل کېږي.دوهم: مسئله د قتل يا وژل د لمانځه پرېښودونکي په قصد سره: نوموړی وائي چي د لمانځه

۱ محمد بن علي شوکاني ـ نيل الاوطار ـ لومړی ټوك ۳۷۰ مخ دارالجيل بيروت د چاپ کال ۱۹۷۳.
۲ وهبه زحلي ـ فقه اسلامي وادلته لومړی ټوك ۵۰۳ مخ حقانيه پېښور ب- ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښودونکی باید ووژل شي بلکي دا وژل ئي په نسبت د کفر سره دي ځکه چي د لمانځه پرېښودونکی کافر ګڼل کېږي، نو بناء په همدې اساس باید ووژل شي ځکه چي دا شخص کافر او یا مرتد دی د کافر او مرتد دواړو وژل جواز لري او بلکي واجب القتل دي.

بناء په همدې اساس د وژلو دلیل ئې خدای [ج] فرمائي: (فاذا انسلخ الشهر الحرم فا قتلوا المشرکين حيث وجدتموهم و خذوهم واحصروهم واقعدوالهم کل مرصد فان تابو واقاموا الصلوٰة و اتوالذکوٰة فخلو سبيلهم ان الله غفور الرحيم) –([1])

ژباړه: هغه وخت کښې چي تېري سوي میاشتي د حرام نو پس تاسي ووژني مشرکان په هر هغه ځاي کښې چي تاسي پیدا کړل او ویې نیسۍ او کلابند (محاصره) ئې کړۍ کړۍ او وتړۍ هر ځاي د ګرځېدو ددوي که ئې چېري توبه وایستله او لمونځ ئې قائم کړ او زکات ئې ورکړ نو بیا دوي پرېږدۍ په تحقیق سره خداي[ج] ډېر مغفرت کوونکی او مهربانه دی.

ددې آیت څخه په صریح ډول سره معلومه سوه چي څوك لمونځ پرېږدي هغه ته (خلی) یعني د خلاصون لاره نشته او په هغه خپل سابقني حال سره پاتي کېږي چي هغه د ویني تویولو روا والی دی. همدارنګه پدې اړوند یو حدیث را اخلو: (بين الرجل و بين الکفر ترك الصلوٰة)

ژباړه: حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: د یو شخص د اسلام او کفر تر منځ توپیر لمونځ دی. همدارنګه بل حدیث د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم دی چي فرمائي: (العهد الذي بيننا و بينکم الصلوٰة فمن ترکها فقدکفر) ([2])

---

۱د التوبه سوره – الآیت ۵
۲ محمد بن علي شوکاني – نیل الاوطار لومړی ټوك۳۷۲ مخ – دار الجیل بیروت د چاپ کال ۱۹۷۳م .
۳شیخ سید سابق – فقه اسنة – لومړی ټوك ۸۲ مخ – دارالفکر د چاپ کال ۱۴۰۳ څلورم چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: هغه عهد او هغه نښه چې د مسلمانانو او کفارو تر منځ ده هغه لمونځ دی. هر څوك چې لمونځ پرېږدي هغه شخص کافر ګڼل کېږي. همدارنګه زيات دلائل امام احمد بن حنبل پدې هکله ذکر کړی چې ځيني دلائل د مدعٰی د ثبوت لپاره دي او ځيني نور ئې د تقوٰی او تائيد لپاره دي لکن د يادوني وړ داهم ده څرنګه چې شيخ سيد سابق [رح] په خپل کتاب فقه السنة کښې د امام شافعي [رح] او امام احمد بن حنبل [رح] تر منځ مناظره نقل کړي هغه مناظره ددوي تر منځ په مذهبي او مسلکي دلائلو بناء ده (امام شافعي [رح] وويل ای احمده ايا ته دا خبره کوې چې د لمانځه پرېښودونکی کافر ګڼل کېږي؟ ده په ځواب کي ورته وويل چي بلې! هو کافر ګڼل کېږي بيا امام شافعي [رح] ورته وويل چي ولي مسلمان ورته وائي؟ امام احمد بن حنبل [رح] ورته وويل دا ځکه چي لمونځ کوي بيا امام شافعي ورته وويل چي د کافر لمونځ خونه صحيح کېږي ددې په ځواب کي امام احمد بن حنبل ساکت او چوپ پاته سو.

بنا په همدې سره هر يو مذهبي او فقهي عالم د خپل ځان سره يو شمېر دلائل لري تر څو د جانب مقابل ځواب پري وويلای شي ([1]).

## ۳) د حضرت امام شافعي [رح] او امام مالک [رح] مذهبونه د لمانځه د پرېښودونکي په هکله:

امام شافعي اوامام مالك [رح] د لمانځه د پرېښودونکي په هکله داسي نظر لري چې د لمانځه پرېښودونکی ته کافر او مرتد نه ويل کېږي او په وژلو کښې ئې دوي هم موافق دي خو د حد جاري کولو په نامه سره وژل کېږي د کفر اصطلاح نه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارول کېږي- نور يو ډول تعذيب دي ورته ورکړل شي د نورو حدونو په شان سره لکه د حد زنا يا غلا تعذيب البته دا احکام ئې په ژوند پوري تړلي دي. بلکي يو نوع احکام نور هم سته چي هغه وروسته له مرگ څخه پري اجراء کېږي.

نوموړي علماء وائي چي وروسته له مرگ څخه دي غسل ورته ورکړل شي او جنازې لمونځ دي پرې اداء کړل شي. د مسلمانانو په شکل دي د هغوي په مقبره کي خښ کړل شي – اما کومه خبره چي د وخت ورکولو ده، ځيني علماء وائي چي وخت دي ورته ورکړل شي تر څو دا شخص توبه وباسي لکه مرتد شخص ته چي وخت ورکول کېږي ترڅو دا مرتد شخص توبه وباسي خو د وخت ورکولو مسئله تر څو چي توبه وباسي د امام شافعي [رح] بلکي د ټولو جمهورو علماؤ په مذهب مستحب او نېك کار دی، او هر چي مرتد ته وخت ورکول کېږي هغه واجب دي بايد ضرور وخت ورته ورکړل شي – او توبه وباسي تر څو د اور د سخت عذاب څخه خلاص شي دليل ددې علماؤ پدې ذکر شوي حکم کښې چي د لمانځه پرېښودونکی کافر نه گڼل کېږي:

<u>لمړی</u> – د قرآنکريم دا آيت دی لکه چي خداي [ج] فرمائي: ان الله لا يغفر ان يشرك به ويغفر ما دون ذالك لمن يشاء ([1]). <u>ژباړه:</u> په تحقيق سره خدای [ج] مغفرت نه کوي هغه چاته چي شريك ئې نيولی وي د خدای [ج] سره او مغفرت کوي ماسوٰی د شرك څخه هغه چاته چي خوښه او رضا ئې شي.

<u>دوهم</u> – حديث: همدارنگه يو شمېر حديثونه پدې هکله نقل شوي چي د هغه جملې څخه د مثال په ډول ذکر کوو:

---

۱د النساء سوره – ۱۱۶ آية.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حضرت ابي هريره رضی الله تعالی عنه څخه روايت شوی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي: (ان اول ما يحاسب به البعيد يوم القيامة الصلاة المكتوبته فان اتمها الا نقيل: انظرواهل له من تطوع؟ فان له من تطوع اكملت الفريضة من تطوعه الم يفعل سائر الاعمال المفروضته مثل ذالك) – رواه احمد وانسائي و ابو داؤد و ابن ماجة –([1]).

ژباړه: د حضرت ابي هريره رضي الله تعالی عنه څخه روايت شوی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي: اول هغه څه چي په ورځ د قيامت د خدای [ج] له طرفه د خپل بنده سره محاسبه کېږي هغه لمونځ دی که چېري پوره کړی وي او که ئې نوي پوره کړی نو وبه ويل شي تاسي وګورئ آيا ددې سړي د نېکو عملونو يعني نفلونو څخه کوم شی شته که چېري ئې نفلونه درلودل هغه فرضونه پرې پوره کوي وروسته نور عملونه هم پدې د ستور سره اجراء کېږي لکه د لمانځه صورت چي وښودل شوه.

د حضرت امام شافعي او امام مالك رحمهماالله استدلال د قرآنکريم او نبوي حديثونو څخه پدې هکله دي چي د لمانځه پرېښودونکی کافر نه ګڼل کېږي – د ياد شوي حديث څخه داهم معلومېږي چي د لمانځه پرېښودونکي عقيده صحيح ده ليکن بياهم ياد شوي علماء (امام شافعي او امام مالك) يې هغه وخت کافر ګڼي چي په قصد سره د لمانځه د فرضيت څخه منکره شي هغه لومړني حديثونه د لمانځه پرېښودونکی په کفر مرتد کېدلواو يا خو د وژلو وجوب تري اخيستل کېږي څرنګه چي حنابله وو – علماؤ هم په هغه سره استدلال کړيدی. ذکر شوي علماء دا حديث په هغه شخص سره حمل کوي چي د لمانځه پرېښودونکي دغه د

---

١. محمد بن علي شوکاني – نيل الاوطار – لومړی ټوك ٣٧۴ مخ – دار الجميل بيروت د چاپ کال ١٩٧٣م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمانځه پرېښودل حلال وګڼي او يا خو ئې په هغه شخص حمل کوي چي د کومي جزاء مستحق ګرځېدلی وي چي عبارت له وژلو څخه ده ([1]).

۴- د امام شوکاني رحمت الله تعالی عليه نظر:

همدارنګه د اسلامي فقهي د جيدو او برجسته علماؤ څخه امام شوکاني رحمت الله عليه دی چي نوموړی عالم د پرېښودونکي يا (تارك الصلوٰة) په هکله خپل نظر داسي څرګندوي: وائي چي حقه او صحيح خبره داده چي پرېښودونکی د لمانځه کافر دی بايدووژل شي چي زياته برخه د امام احمد بن حنبل [رح] مذهب تائيد کوي ځکه چي کفر ددې شخص د شفاعت او مغفرت منع کونکی نشي ګرځېدلای، ځکه چي کفر پخپل ذات کښې زيات قسمونه لري. نو بناء په همدې اساس سره پدې خبره سره ئې هغه نورو علماؤ ته په ضمني توګه ځواب ورکړ چي دوي وائې چي دا شخص د شفاعت او مغفرت مستحق نشي ګرځېدلای. نوموړي په ځواب کښې ورته وويل چي داسي هم نده چي بالکل ددې شخص ته مغفرت ونه شي او يا خو ئې شفاعت قبول نشي.

مثلاً لکه کفر د اهل د قبلې په سبب د بعضي ګناهونو سره حال دا چي بيا هم کېدای شي چي دوی ته مغفرت او مستحق د شفاعت وګرځي خو سره ددې چي خدای [ج] په کفر سره هم مسمٰی کړي.

تر ټولو ضروري خبره چي د يادوني وړ ښکارېږي هغه داده چي د لمانځه د پرېښودونکي وژل به څه ډول وي چي پدې هکله دوه مذهبونه وجود لـــــــري:

---

۳ وهبه زحلي- فقه اسلامي وادلته – لومړي ټوك ۵۰۴ مخ حقانيه پېښور- ب، ت، ث.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- جمهورو علماء پدې هکله وائي د لمانځه پريښودونکی (تارك الصلاة) سر بايد په توره ووهل شي او سر دي پرې غوڅ کړل شي البته که چيري ئې توبه نه وي ايستلې.

۲- د احنافو مذهب: د احنافو علماؤ نظر دادی چې د جمهورو علماؤ سره غالباً موافق ندی ځکه چې احناف وائي چې پدې شکل سره نه وژل کيږي لکه څرنگه چې د جمهورو علماؤ نظر دی بلکې احناف وائي دی دي ووهل شي او په بندي خانه کښې دي واچول شي تر څو چې په بنديخانه کښې مړ شي. څکه دوی زياتوي چې تر ټولو ښه او غوره طريقه د وژلو ئې بنديخانه ده.( [1] )

[1] شيخ سيد سابق – فقه السنة – لومړی ټوك – ۸۲مخ – دارالفكر د چاپ كال ۱۴۰۳ه ق، څلورم چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم فصل

## په لـــمانځه کښـــي د امامت حـــــکمونه

**امامت په لغت کښې:** امامت په اصل کښې دامام د لفظ مصدر دی چي د عامي سرپرستۍ په معنٰی سره راځي.

امام په اصطلاح کښې هر هغه شخص ته ویل کېږي چي اقتداء او متابعت ئې په ټولو امورو کښې کېږي.

لکه څرنګه چي خداي [ج] فرمائي: (**و جعلنا منهم ائمة يهتدون بامرنا** ) ژباړه: موږ ګرځولي له دوي (مؤمنانو) څخه امامان چي دوي لاره موندونکي دي زموږ په امر سره.([1]) همدارنګه د امام لفظ د اهل لغت له نظره عام دی، نارینه، ښځینه دواړو ته شاملېږي چي جمع ئې ائيمة راځي يعني هغه څوك چي اتمام او د امر پوره والی پرې راغلی وي - او يا داچي هغه چاته ويل کېږي چي اقتداء ورپسي شوې وي.

او يا دا چي امامت هغه روښانه او واضح لاري ته ويل کېږي چي لکه د کوټې د تهداب کرښه په سپينه چونه واچوله شي او پرهغه باندي نقشه رسم شي.([2])

ليکن دغه کوم تحقيق چي وشو دا په عام سطحه دی بلکي يوې ډول ته ئې هم ندی ځانګړی شوی خو زموږ چي پدې ځاي کښې مطلب دې هغه د لمانځه امامت دی.

**د امامت اقسام:** امامت په دوه ډوله دی:

١- امامت (کبرٰی) يعني لوي امامت (امارة يا د هيواد رهبري).

---

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلة – لومړی ټوك – ١٧٣مخ- حقانيه پېښور ب – ت.
[2] يوئس معلوف المنجد في اللغة – لومړی ټوك – ١٧مخ – معراج مکتبه – د چاپ کال ١٣٦٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- امامت (صغرٰی) یعني وړوکی امامت (د لمانځه امامت).

**امامت (کبرٰی) یعني لوي امامت:** په اصطلاح کښې په عامه توګه د یوه هیواد په خلکو تصرف او قوت لاسته راوړل چي هدف د تصرف څخه اطاعت دي اوهدف د قوې څخه په دیني او دنیوي امورو (چارو) کښې سرپرستي کول دي ([1]).

همدارنګه امامت د حضرت پیغمبر [ص] څخه نیابت دی. په همدې اړوند دوکتور وهبه زحیلي په خپل کتاب فقه اسلامي وادلته کښې لیکلي:

(الامامة موضوعة لخلافة النبوة في مراقبت الدين وسياسة الدنيا) ژباړه: امامت قائم مقام ګرځېدل دانبیاؤ علیهم الصلوٰة و سلام دې ددین په ساتلو او د دنیا په سیاست کښې.

لکه څرنګه چي د امامت کبرٰی لپاره مو اصطلاحي تعریف ذکر کړ نو بناء په همدې اساس ضرور ده چي د امامت کبرٰی حکم بیان کړو.

نو بناء په همدې اساس د ټولو علماؤ په اتفاق (اجماع) سره د امیر تعینول په یوه مملکت کښې واجیبي او شرعي امر دی ځکه په یوه دولت کښې چي یو تعداد خلك ژوند کوي نو د هغه لپاره ضرور او واجب ده چي امیر ورته تعین کړل شي، تر څو د دوي خپل منځي اختلافات په اصولي توګه حل شي. همدغه راز د خلکو تر منځ د امیر ټاکل د هغه هېواد د خلکو شرعي وجیبه ده.

خو لیکن بیا هم ځیني شرطونه ددغه نوع امامت لپاره د السلامي فقهي علماؤ بیان کړي- چي دا شرطونه شیخ الفقهاء علاء والدین حصکفي په خپل کتاب الدار المختارکې داسي بیانوي:

---

[1] وهبه زحلي - فقه اسلامي وادلة – لومړی ټوك – ۱۷۴مخ- حقانیه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوه هېواد لپاره د امیر ته تاکلو کښې لاندي شرطونه ضروري ګڼل کېږي.

۱ شرط دادی چي امیر به مسلمان وي.

۲ شرط دادی چي امیر به اصیل (حر) وي.

۳ شرط دادی چي امیر به عاقل وي.

۴ شرط دادی چي امیر به نارینه وي ځکه د ښځي امارت په اسلامي شریعت کښې جواز نلري.

۵ شرط دادی چي امیر به بالغ وي.

۶ شرط دادی چي امیر به قوي وي د جسم له پلوه.

۷ شرط دادی چي امیر به قریشي وي.

لیکن بیا هم دا خبره ضرور نده چي هاشمي به وي او یا خو به د حضرت علي کرم الله وجهه د اولادې څخه وي لکه څرنګه چي د بعضي اهل تشیع نظر دی د نوموړي قبیلې نظر د امامت په هکله علاؤالدین حصکفي په خپل کتاب الدار المختار کښې داسي بیان کړي:

۱) شرط دادی چي امیر به معصوم وي همدارنګه ځیني امامیه او اسماعلیه هم پدې ورسره موافق دي.

۲) شرط دادی چي امیر به هاشمي وي.

۳) شرط دادی چي امیر به د حضرت علي کرم الله وجهه د اولادې څخه وي.

همدارنګه د فاسق شخص تعین د امیر په حیث د اسلامي فقهي علماؤ مکروه ګڼلی دي او عزل کول ئې ضرور دي او یا خو دا چي په ښو اخلاقو سره نوموړي ته دعوت ورکړل شي تر څو اصلاح شي.

بیا هم د فاسق شخص تعین د امیر په حیث سره په دریو شرطونو جواز لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ شرط دادی چي اهل الحل والعقد به تعین کړي وي.

۲ شرط دادی چي په میراث به ورته پاتي شوي وي.

۳ شرط دادی چي د ضروري امورو د تنظیم لپاره تعین شوي وي.

**امـــــامــــت صغـــــــرٰی:**

د اسلامي فقهي علماؤ له نظره امامت صغرٰی په اصطلاح کښې عبارت دی له هغه امامت څخه چي د مقتدی او امام تر منځ په لمانځه کښی رابطه سره ټینګوي- همدارنګه د اصطلاحي تعریف په هکله ځیني څرګندوني نوري هم شته.

امامت صغرٰی عبارت دی د مقتدي پیروي کول په امام پسي په یوه برخه د لمانځه د برخو کښې ([1])

همداراز شیخ علاؤ الدین حصکفي حنفي پدې هکله په خپل کتاب الدر المختار کښې امامت صغرٰی داسي تعریف کړي: امامت صغرٰی عبارت دی له نښلول د مقتدي د لمانځه په امام پسې په لسو شرطونو کښې دي:

۱ نیت د مقتدي دی په امام پسي.

۲ د مقتدي او امام د ځای یووالی دی.

۳ یووالی د لمانځه د امام او مقتدي دی.

۴ شرط دادی چي د امام لمونځ به صحیح وي د ښځینه ؤ د صف څخه به جدا وي (محاذات) به نوي.

۵ شرط دادی چي مقتدي به په امام باندي وړاندي نه وي.

۶ د مقتدي پوهېدل دی په حرکاتو د لمانځه کښې د امام په حال سره.

---

[1] شیخ حسن بن علي اشو بنداي- نورالابیضاح ۷۵مخ حقانیه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ علم د مقتدي دی په حال د امام سره چي عبارت له مقيم او مسافر څخه.
۸ شرط دادی چي مقتدي به شريك وي د لمانځه په اركانو كښې له امام سره، او داسي نـــــــــور.([1])

خو ليكن بيا هم د اسلامي فقهي علماء پدې هلكه ډول ډول نظرونه لري لكه څرنگه چي شيخ علاؤالدين حصكفي د كشف الاستار په حامش كښې لومړی تعريف ته داسي اشاره كړې لكه څرنگه چي يوه برخه د تعريف د امامت شرطونه وو. ليكن بيا هم نوموړي ياد شوي شرطونه د مقتدي لپاره بيان كړي خو هغه شرطونه چي د امام لپاره دي هغه شپږ شرطونه دي چي داسي ئې بيانوي:

۱ شرط دادی چي امام به مسلمان وي.
۲ شرط دادی چي امام به بالغ وي.
۳ شرط دادی چي امام به عاقل وي.
۴ شرط دادی چي امام به نارينه وي.
۵ شرط دادی چي امام به قاري يعني د قرآن كريم لوستونكی وي.
۶ شرط دادی چي امام به له عذرونو څخه جوړ وي.

اميد لرم چي د ياد شوي بحث په هكله همدغه اندازه ليكنه بسوالی وكړي كه څه هم نظريات نور هم زيات دي ليكن هغه كوم چي د ضرورت وړ ؤ هغه ته مو مراجعه وكړه او هغه مو راټول كړل. ([2])

[1] علاؤالدين حصكفي- الدار المختار لومړی ټوك- ۸۲مخ- دارالاشاعة العربية.
[2] لومړنی مرجع- د كشف الاستارحامش – ۴-.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دامامت د صحت شرطونه

## ۱ اول شرط د امامت اسلام دی:

لومړنی شرط د صحت دامامت کولو څخه اسلام دی ځکه د ټولو علماؤ په اتفاق سره د کافر او مرتد شخص امامت نه صحیح کېږي، چي پدې هکله د یو شمېر علماؤ نظرونه هم لرو:

۱ **د امام احمد بن حنبل [رح] مذهب:** نوموړی عالم وائي که چېري په یو شخص کښې ددې شك پیدا شو چي آیا دغه سړی مسلمان دی او که کافر او یا مثلاً ددې شك پیدا شو چي دا شخص نر ښځی دی او که جوړ سړی دی نو دا اداء کړی شوی لمونځ ئې صحیح دی او په مقتدیانو (قوم) د لمانځه اعاده او راګرځول نشته تر څو ئې چي صحیح کفر نوي ثابت شوی ځکه ددې دعوې دلیل دادی چي په ظاهر کښې دا شخص لمونځ کوي او خصوصاً بیا امامت کوي نو امامت او یا لمونځ کول د اسلام یوه لویه نښه ده او د ظاهرله پلوه د اندامونو جوړوالی هم پدې دلالت کوي دا معلومېږي چي دا شخص نرښځی ندی خصوصاً هغه څوك چي د نارینهؤ امامت کوي او که چېري معلومه شوه چي دا سړی کافر دی، نو بیا پر خلکو دلمانځه اعاده (راګرځول) واجب دي- څرنګه چي ددې بحث څخه معلومېږي او دا خبره ترې ثابتېږي چي نن زمونږ د خلقیانو او کمونستانو امامت هم صحیح کېدای شي ځکه چي د ذکر شویو علماؤ دلیل لمونځ کول دي نو کمونستان هم فعلاً لمونځ کوي خو بیا هم ضرور نده چي کمونستان امامت وکړي ځکه چي د قوم نیت په اقتداء کولو کښې نه ورپسي صحیح کېږي او د مسلمانانو په وینو یې لاسونه سره دي، که څه هم د یو شخص په اسلام او کفر سره د لمانځه په خاطر حکم کېږي. لکه څرنګه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پرتنیو علماؤ دلیل هم پدې شان سره وو- که څه هم په دارالحرب کښې هم وي چې لمونځ کوي مسلمان ورته ویل کېږي او د ضرورت په وخت کښې ئې امامت کول هم جواز لري.([1])

خو لیکن افضله او بهتره نده کله چې ښه او جید علماء موجود وي او یاد شوي ډول اشخاص د (قوم) امامت کوي.

۲- **د امام شافعي رحمة الله علیه مذهب:** امام شافعي [رح] پدې هکله وائي که چېري داخبره د لمانځه د اداء کولو څخه وروسته ثابته شوه چې امام کافر، مرتد او یا نرښځی دی نو بیا په قوم سره د لمانځه راګرځول ضروري دي. ځکه چې یاد شوي خلك د امامت کولو مستحق ندي او د قوم لمونځ نه ورپسې صحیح کېږي.[2]

همدارنګه ددې نظریاتو په تائید سره علامه الفقهیه محمد طاهر البخاري په خپل کتاب خلاصة الفتوٰی کښې لیکـلي:

وائي که چېري یو شخص د یو قوم یوه میاشت امامت وکړ او بیائې وروسته وویل چې زه خو مجوسي وم نو داسړی په اسلام سره مجبوره کېږي د نوموړي دا خبره صحیح کېږي چې ووائي د قوم لمونځ صحیح شو همدارنګه ئې وویل چې ما ستاسي یو څه وخت د بې اودسۍ په حال کښې امامت کړی دی لیکن دا خبره هم د نوموړي امام د قبول وړ ده ضروري ده چې قوم خپل لمونځ راوګرځوي – په همدې ډول پورتنۍ فقهي جزئیه د امام شافعي او امام احمد بن حنبل د مذهبونو تائید جوړوي.([3])

---

[1] وهبۀ زحیلي – ففه اسلامي وادلته – لومړی ټوك ۱۷۴ مخ حقانیه پېښور- ب- ت.

[2] وهبۀ زحیلي – ففه اسلامي وادلته – لومړی ټوك ۱۷۴ مخ حقانیه پېښور- ب- ت.

[3] محمد طاهر البخاري- مجموعة الفتوٰی – لومړی ټوك – ۴۶،۴۵ مخونه – جیبه کوټه – د چاپ کال ۱۳۹۷ه ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲. دوهم شرط د امامت کولو د سالم عقل درلودل دی:

په همدې توګه د امامت د صحت د شرطونو څخه عقل دی، ځکه چي د عقل په شتوالي د اسلامي فقهې ټول علماء اتفاق لری چي په لیوني (مجنون) پسي اقتداء کول جواز نلري او امامت ئې نه صحیح کېږي. ځکه د لېوني لمونځ د خپل ځان لپاره باطل دی- څرنګه چي د لېوني لمونځ د خپل ځان لپاره صحیح نه شو نو د قوم لپاره په طریقه اولی نه صحیح کېږي. که چېري لېونتوب پداسي شکل سره وو چي ځیني وخت جوړ ؤ او ځیني وخت لیونی ؤ، نو پدې صورت کښې ورپسي صحیح کېږي – لیکن بیا هم کراهیت لري ځکه چي دا خو معلومه نده چي د لیونتوب حالت څه وخت ورباندي راځي کېداي شي چي د لمانځه په منځ کښې ورته راشي او لمونځ فاسد کړي او علت د صحت د لمانځه دادی چي اصل په انسان کښې جوړ والی دی اود مرض راګرځېدل عارض دی نو په عارضي شي سره (احتمال) لمونځ نه فاسد یږي نو بنا په همدې اساس دعقل شتون د امامت د صحت شرط وګرځېده، ددې څخه معلومه شوه چي تر څو یو شخص عاقل نوي اقتداء هم نه ورپسي صحیح کېږي. ([1])

### ۳- د امامت د صحت د شرطونو څخه دریم شرط بلوغ دی:

څرنګه چي بلوغ د امامت د صحت د شرطونو څخه یو شرط ګڼل کېږي نو په همدې اساس اصلي ممیز یعني دوړوکي هلك امامت هم نه صحیح کېږي چي په دې اړوند د علماؤ نظریات په لاندي ډول دي:

[1] وهبهٔ زحیلي – فقه اسلامي وادلته – لومړی ټوك ۱۷۴ مخ حقانیه پېښور- ب- ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- جمهور علماء وائي چي د وړوکي هلك امامت د بالغ (كبير) شخص لپاره نه صحيح كېږي، كه فرض لمونځ وي او يا نفلي وي.

۲- امام اعظم ابو حنيفه [رح] هم د جمهور علماؤ سره موافق دى وائي چي د وړوكي هلك امامت كول د بالغ (كبير) شخص لپاره نه صحيح كېږي كه فرض لمونځونه وي او يا نفلي وي.

۳- امام مالك او امام احمد بن حنبل [رح] په مذهب د وړوكي هلك امامت كول د (كبير) شخص لپاره په فرض لمونځونو كښې نه صحيح كېږي – ليكن په نفلي لمونځونو كښې صحيح كېږي مثلاً لكه د تراويح – كسوف يا خسوف لمونځ وي پدې كښې امامت كول صحيح دي او اقتداء كول ورپسي جواز لري.

ځكه ددوى دليل د حضرت ابن مسعود او ابن عباس رضي الله تعالٰى عنهما حديثونه دي چي وائي:

(لا يؤم الغلام حتّى يحتلم([1]) يعني وړوكى هلك دي امامت نكوي تر څو چي بلوغ ته نوي رسېدلى، ځكه چي امامت د كمال حالت دى بلكي وړوكى هلك اهل د كمال نه دى.

4. امام شافعي(رح) پدې هكله وائي چي د بالغ (كبير) شخص اقتداء كول په وړوكي هلك (صغير) پسي جواز لري او اقتداء ئې ورپسي صحيح ده ځكه د نوموړي امام دليل پدې هكله د عمر بن سلمة حديث دى چي فرمائي [أممت علٰى رسول الله صلى الله عليه وسلم و انا الغلام ابن سبع سنين]([2]).

[1] محمد بن علي شوكاني – نيل الاوطار – دريم ټوك ۲۰۳ مخ دارالجيل بيروت د چاپ كال ۱۹۷۳ م.
[2] محمد بن علي شوكاني – نيل الاوطار – دريم ټوك – ۲۰۳مخ – دارالجيل بيروت د چاپ كال ۱۹۷۳م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عمر بن سلمة څخه روایت دی چي وائي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم امامت کاوه او زه اوه کلن هلك وم.

لیکن بیا هم نوموړی صاحب المذهب امام د یو شمېر نورو علماؤ نظر اخلي او لیکي چي د وړوکي هلك امامت کول د جماعت لپاره صحت لري خو کراهیت هم پکښې شته.

**4) د امامر د صحت د شرطونو څخه نارینه والی دي:**

کله چي مقتدیان نارینه ښځینه او یا نرښځي وي، خو کله چي نارینه والی د امامت لپاره شرط وګرځیدی بناء په همدې اساس د ښځي او یا نرښځي امامت کول د نارینه ؤ لپاره که فرض لمونځونه وي او یا نفلي وي، نه صحیح کېږي. چي پدې اړوند د ځینو علماؤ نظرونه را اخلو:

**أ- د جمهورو علماؤ مذ هب:**

یاد شوي علماء پدې هکله داسي نظر لري چي که چېري مقتدیان ښځینه وي بیا نارینه والی ورته شرط ندی. بناءً د ښځي امامت کول د ښځینه ؤ مقتدیانو لپاره صحیح دی ځکه ددوي دلیل د حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها حدیث دی چي هغي او ام سلمة (رضي الله تعالیٰ عنهما) او عطاء روایت کړی فرمائي: [ان المراة تؤم النساء]([1]). – ژباړه: ښځه امام د ښځینه ؤ مقتدیانو لپاره امامت کولاي شي. همدارنګه په دار قطني کښې له ام ورقه رضی الله تعالی عنها څخه نقل شوی فرمائي: [اذن لها ان تؤم نساء دارها]. ([2]) – ژباړه: د حضرت أم ورقه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم نوموړي ته اجازه ورکړه تر څو د خپل کور د ښځو امامت وکړي. بناء په همدې اساس د یاد شویو حدیثونو څخه اخیستنه

[1] محمد بن علي شوکاني – نیل الاوطار – دریم توك – ۲۰۲مخ – دارالجیل بیروت د چاپ کال ۱۹۷۳م
[2] محمد بن علي شوکاني – نیل الاوطار – دریم توك – ۲۰۱مخ – دارالجیل بیروت د چاپ کال ۱۹۷۳م

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي چي د ښځينه امام امامت کول د ښځينه مقتديانو لپاره صحيح دي جواز لري.

ب- **امام شافعي رحمة الله عليه مذ هب:** امام شافعي رحمة الله پدې هکله وائي چي د ښځينهؤ مقتديانو امامت کول او بلکي د ښځو حاضرېدل جماعت ته پداسي حال کي چي امام نارينه وي مکروه والى نلري بلکي صحيح او مستحب (نېك) کار دى. امام به د ښځينه مقتديانو د صف په منځ کښې درېږي.

ت- **دامام احمد ابن حنبل (رح) مذ هب:** دامام احمد بن (رح) څخه پدې هکله دوه ډوله نظرئې نقل شوي دي.

١- د ښځينهؤ مقتديانو حاضرېدل مستحب دي او په همدې شان ئې امامت کول هم د ښځينهؤ مقتديانو لپاره مستحب دى.

٢- د ښځينهؤ مقتديانو جماعت ته حاضرېدل او يائې امامت کول غير مستحب دي([1]).

خو دا حج نظر ئې لمړى شماره ده.

ث- **دامام اعظم ابو حنيفه (رح) مذ هب:** د امام صاحب نظر پدې هکله دادى چي د ښځينهؤ مقتديانو جماعت ته حاضرېدل تنها غير د نارينهؤ څخه مکروه ګڼي که څه هم د تراوېح، خسوف، کسوف لمونځونو کښې وي، مکروه دى.

ځکه د امام اعظم (رح) دليل پدې هکله داحديث دى: [ صلوٰة المراءة في بيتها افضل من صلوتها في حجرتها و صلوتها في محذعها افضل من صلوتها في

[1] وهبهٔ زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ١٧٥مخ – حقانيه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیتها]([1]). ژباړه: د ښځو لمونځونه په کور کښې غوره دي له هغه لمانځه څخه چي په حجر کښې ئې کوي او د ښځي لمونځ په مخدع کښې غوره دی له هغه لمانځه څخه چي په کور کښې ئې کوي.

او بل دا چي د ښځو حاضرېدلو کښې دوه ممنوعه شیان منځته راځي: یو دا چي د امام درېدل د ښځو د صف په منځ کښې دا مکروه دی او یا خو وړاندي والی د امام په ښځینه ؤ مقتدیانو سره راځي چي دا هم مکروه دی. نو بناء په همدې اساس په نارینه امام پسې لمونځ کول او یا جماعت ته حاضرېدل هم مکروه دي، له همدې کبله ئې اذان کول هم مکروه دي.

**5.** د امامت د صحت د شرطونو څخه پاکوالی دی له جنابت، بې اودسی او نورو نجاستونو څخه چي پدې اړوند د علماؤ نظریات په لاندي توګه لیکو:

أ- **د جمهورو علماؤ مذهب:** جمهور علماء پدې هکله داسي وائي چي دا ضروري خبره ده چي د بې اودسی یا نورو نجاساتو څخه امام پاك وي که چېري د امام په جامه یا بدن زیاته اندازه نجاست وي لمونځ ئې باطل دی که څه هم نوموړی امام چي امامت کوي خبروي او یا نوي خبرلمونځ ئې باطلېږي.

ب- **د امام مالك (رح) مذهب:** امام مالك رحمة الله علیه پدې اړوند وائي چي که چېري ئې په قصد سره ځان بې اودسه کړی وي نو د امام او مقتدیانو دواړو لمونځونه باطلېږي. او که چېري ئې په بې خبری سره په جامه یا بدن نجاست وو او

[1] محمد بن علي شوكاني – نيل الاوطار – دريم ټوك –۱۶۱مخ – دارالجيل بيروت د چاپ كال ۱۹۷۳م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لمانځه د خلاصون څخه وروسته پدې خبر شو لمونځ ئې صحيح دی. او که چاته معلومه شي چي امام بې اودسه او يا جنب دی په پسې ئې اقتداء له سره باطله ده.

خو که چېري امام پدې پوه شوی وی او که نه وي ليکن بياهم د مقتديانو لمونځ ورپسې صحيح کېږي او دوي ته د جماعت د لمانځه ثواب ورکول کېږي – که څه هم امام شافعي او امام احمد ابن حنبل (رح) په لمانځه کښې ورسره موافق ندي مثلاً که چېري وروسته پدې سره پوه شي چي امام بې اودسه دی او يا خو ئې په کاليو او بدن کښې نجاست دی نو ضروري ده چي لمونځ راوګرځوي. ځکه چي د نومورو علماؤ دليل د يوه حديث مضمون دی چي دوکتور وهبه صاحب په خپل کتاب فقه اسلامي کښې نقل کړی وائي: په هغه وخت کښې چي معذور (جنوب) شخص په يو قوم لمونځ اداء کړي نوموړی امام دي خپل لمونځ راوګرځوي او د قوم لمونځ صحيح شو([1]).

ج- **د امام شافعي (رح) مذهب**: امام شافعي (رح) وائي چي اقتداء په هغه چا پسي وروسته نه صحيح کېږي چي په هغه د لمانځه اعاده يعني راګرځول واجب وي مثلاً لکه اودس لرونکی چي په تيمامه کونکي پسي اقتداء وکړي او يا هغه شخص چي په بدن يا جامه ئې نجاست وي ليکن د مينځلو څخه ئې هير شوي وي، ددې ډول اشخاصو د لمانځه راګرځول واجب دي.

**6. د امام د صحت د شرطونو څخه حسن د قرائت او د لمانځه ارکان دي:** چي پدې اړوند د علماؤ نظرونه په لاندي ټکيو کښې ليکو.

---

[1] وهبهٔ زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۶۱مخ – حقانيه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**أ- د جمهورو علماؤ مذ هب:**

جمهور علماء وائي د لمانځه ارکان پـه صـحيح توگه اداء کوي او پـه ښائسـته ډول قرآن کريم به لولي. ځکه غير له دې شرطونو څخه امامت هم نه صحيح کېږي نو بناء په همدې اساس د قاري اقتداء په امي پسي نه صحيح کېږي. او د لمانځه راگرځول د قاري لپاره لازم دي. څرنگه چي په گونگ سړي پسي لمونځ نه صحيح کېږي – که څه هم خپل هم مثله سړي ورپسي اقتداء وکړي امامت کول ئې ورتـه نـه صـحيح کېږي.([1])

**ب- د امام اعظم ابو حنيفه (رح) مذ هب:**

امام ابو حنيفه رح پدې هکله وائي چي اقتداء په خپل هم مثله شخص پسي جواز لري مگر درې کسان دي چي اقتداء د يوه په بل پسي نه صحيح کېږي:

1. د خنثى (نرښځي) اقتداء کول په خپل مثل پسي نه صحيح کېږي.
2. د مستحاضې اقتداء په خپل هم مثله پسي نه صحيح کېږي.
3. په هغه ښځه پسي د نورو ښځو اقتداء نه صحيح کېږي چي خپل د عادت وخت ترې بې درکه شوی وي.

ددې اشخاصو اقتداء په خپل هم مثله پسي نه صحيح کېږي.

**ج- د امام مالک (رح) مذ هب:**

امام مالك (رح) پدې هکله وائي چي شرط په اقتدائ يا صحت د امامت کښې دادی چي امام به د لمانځه په ارکانو قادر وي که چېري د لمانځه د ارکانو څخه عاجز وي

[1] وهبۀ زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۲۲ مخ – حقانيه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دا ارکان قولي وي لکه سورة فاتحه لوستل او یا فعلي وي لکه رکوع، سجده، قیام کول، نو اقتداء پدې صورت کښې نه صحیح کیږي – مګر بیا هم د هر هم مثله اقتداء په خپل مثل پسې صحیح کیږي غیر د هغه استثنٰی شوو خلکو څخه([1]).

۷. د امامت د صحت د شرطونو څخه دادی چې امام به اشاره کونکی نه وي:
همدارنګه د امام د روغتیا جوړوالی د امامت د صحت لپاره شرط ګڼل کیږي، یعنې امام به اشاره کونکي نه وي ځکه چې د جوړ سړي اقتداء په اشاره کونکي پسې نه صحیح کیږي. پداسي حال کښې چې مقتدی جوړ او امام معذوره وي یعنې اشاره کونکی وي ځکه چې مقتدی په ټولو چارو کښې د امام تابع دي د امام د شان څخه دادی چې مستقل به وي ځکه امام د مقتدې ټول مسئولیتونه په غاړه لري. بالاخره د ټولو علماؤ اتفاق پدې سره دی هغه ضعف چې اشاره کول دي او هغه قوت چې استقلال د امام دی دواړه نه سره جمع کیږي. نو بناء په همدې اساس د جوړ سړي لمونځ په اشاره کونکي پسې نه صحیح کیږي.

۸. جوړوالی د عذر څخه د امامت د صحت د شرطونو څخه دی

أ- **د امام اعظم ابو حنیفه او امام احمد بن حنبل (رحمالله) مذهب** پدې هکله داسي څرګند وني لري چې د امام جوړوالی د شرعي عذرونو څخه شرط دی باید داسي شخص امامت وکړي چې دائمي معذور نه وي مثلاً لکه د پوزي څخه دائمي د ويني بهېدل، د باد جاري والی، د بولو جاري کېدل، ددې ډول اشخاصو امامت نه صحیح کیږي لیکن بیا هم دا حکم تر هغه خلکو پوري دی چې د جوړو خلکو امامت کوي.

---

[1] وهبة زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۷۷مخ – حقانیه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېري په خپل هم مثله پسي اقتداء وکړي او یا ئې امامت وکړي امامت ئې صحیح دی، ددې ډول مقتدیانو اقتداء هم ورپسي صحیح کېږي. لیکن بیا هم شرط دادی پکښې چې د امام او مقتدیانو عذرونه متحد یعني یو شان وي. نوکه چېري یې عذرونه مختلف وي، امامت او اقتداء ورپسي نه صحیح کېږي. د مثال په توګه ئې یادوم چې که چېري هغه شخص چې بولي ئې جاري وي په هغه چا پسي وروسته اقتداء وکړي چې باد ئې جاري وي نو پدې صورت کښې امامت نه صحیح کېږي او لمونځ ئې د راګرځولو وړ بلکي واجب ده چې لمونځ راوګرځوي. ځکه چې د امام او مقتدیانو عذرونه سره متحد ندي.
که چېري د امام او مقتدیانو عذرونه موافق وه امامت کول ئې جواز لري – یعني د معذورو مقتدیانو لمونځ په معذور امام پسي صحیح دی شرط به داوي چې عذرونه ئې متحد وي([1]).

**ب- د امام مالک (رح) مذهب:**

امام مالك (رح) وائي چې د امام جوړوالی له شرعي عذرونو څخه لکه د بولو جاریوالی یا د باد جاري والی، ددې ډول عذرونو څخه جوړوالی شرط ګڼي. ځکه نوموړی وائي چې د هغه د شخص امامت مکروه دی چې صاحب العذر وي په نسبت د هغه شخص چې عذر ونه لري.

**ج- د امام شافعي (رح) مذهب:**

امام شافعي (رح) د امام جوړوالی له شرعي عذرونو څخه شرط نه ګڼي، پدې معنٰی چې امامت مکروه ندی چې امام شرعي عذر یا دائمي مریضي و لري ځکه نوموړی وائي چې په صاحب العذر امام پسي د جوړو مقتدیانو لمونځ صحیح کېږي.

---

[1] وهبهٔ زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۷۹مخ – حقانیه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹. د امامت د صحت د شرطونو څخه د امام د ژبې روغوالی دی چې هر حرف د ټولو صفتونو سره په خپل مخرج کښې اداء کړي.
چې پدې اړوند د علماؤ نظرونه په لاندي ټکیو کښې لیکو:

1. **د جمهورو علماؤ مذهب:** جمهور علماء پدې هکله وائي چې د امام د ژبې جوړوالی ضروري شرط دی لیکن د هغه شخص امامت چې تکرار د حروفو کوي مثلاً تاء تاء یا فاء فاء لولي، جواز لري او اقتداء ورپسي صحیح ده. که څه هم د خپل هم مثله امامت ونکړي بلکې د نورو اشخاصو لپاره هم جواز لري، خو بیا هم پدې صورت کي ئې لمونځ مکروه کېږي – لیکن دا نظریه د جمهوروعلماؤ ده خو امام ابو حنیفه (رح) ورسره موافقت نلري[1].

څرنگه چې د امامت د صحت شرطونه مو یاد کړل خو یو شمېر نور شرطونه دي چې هغه په داخل د مذهبونو کښې دي مثلاً د یو مذهب پدې موافقه وي او بل مذهب ورسره مخالف وي، سره له دې چې په لومړنیو شرطونو کښې اراء او نظرئې د مذاهبوذکر شوي لیکن بیا هم دا هغه شرطونه دي چې د ځینو مذهبونو پرې موافقه وي او ځینو مذهبونو موافقه ورسره نوي مثلاً په مخالف المذهب پسي اقتداء کول.

أ- **د امام شافعي او ابو حنیفه په مذهب سره شرط دادی** چې امام او مقتدي به دواړه د یوه مذهب پیروان وي که چېري د امام ابو حنیفه د مذهب پیروان په امام شافعي مذهبي پیروان پسي اقتداء وکړي او پدې حال کي ددې امام څخه وینه وبهېږي او اودس ونه کړي او یا مثلاً شافعي مذهبي په حنفي مذهبي پسي

[1] وهبهٔ زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۹۰مخ – حقانیه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اقتداء وکړي نو پدې صورت کې د مقتدي لمونځ باطلېږي ځکه پدې سره چې د مقتدي د خپل مذهب په قواعدو سره د امام لمونځ باطل ګڼي نو بناء په همدې اساس په عمومي احکامو او قواعدو کښې د مخالف في المذهب امامت نه صحیح کېږي.

خو امام ابو حنیفه رحمة الله علیه وائي چې په امام شافعي مذهبي مقلد پسې اقتداء کول مکروه دي او امام شافعي (رح) وائي په شافعي مذهبي مقلد امام پسې اقتداء کول بهتره دي نه په حنفي مذهبي او یا نورو مذهبونو پسې یعنې هغه څوك چې د لمانځه په ځینو رکنونو او شرطونو سره معتقد نه وي.

ب- **امام مالك او احمد بن حنبل (رح) وائي:** کوم شی چې د لمانځه په صحت کښې شرط وي په هغه شي کښې اعتبار د امام مذهب ته ورکول کېږي، مثلاً که چیري مالکي مذهبی په حنفي مذهبي – او یا حنفي مذهبی په شافعي مذهبي پسې اقتداء وکړي نو په اوداسه کښې به ټول سرنه مسح کوي ځکه د ټول سر مسح کول شرط ندی نو بناء په همدې دلیل سره د یاد شویو علماؤ په نظر په یاد شویو صورتونو کښې د مقتدي لمونځ صحیح کېږي ځکه د امام د لمانځه په صحت سره په خپل مذهب کښې هغه شی چې شرط وي د مقتدي د لمانځه په صحت کښې نو پدې صورت کښې اعتبار د مقتدي په مذهب سره دی مثلاً لکه مالکي مذهبي او یا حنفي مذهبي چې په داسې حال کښې اقتداء وکړي چې شافعي مذهبي امام نفلي لمونځ کوي نو پدې صورت کښې د مقتدي لمونځ باطل دی ځکه چې د فرض لمانځه اداء کونکی په نفل کونکي پسې د امام مالك او احمد بن حنبل (رح) په مذهب اقتداء باطله ده ځکه د اقتداء د شرطونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شرط د امام او مقتدي د لمانځه یو والی دی یعني د هغه امام امامت کول د مقتدیانو په نسبت صحیح دي چي لمونځ ئې یو وي.

او د هغه مقتدي لمونځ په یو امام پسي صحیح کېږي چي ددوي لمونځ یو وي. بلکي پدې ډول اقتداء او امامت د صحت حکم ورکول کېږي او کوم شرعي نواقص نه ورته راجع کېږي([1]).

**2. د امام احمد بن حنبل (رح) په مذهب د امام شرط دادی چي عادل به وي.**

امام احمد بن حنبل (رح) وائي چي د فاسق شخص امامت کول نه صحیح کېږي یعني هغه امام چي د لویو گناهونو مرتکب شوی وي او یا په ورو گناهونو دوام کوي ددې ډول اشخاصو امامت نه صحیح کېږي – که څه هم په خپل هم مثله پسي اقتداء وکړي بیا هم نه صحیح کېږي. که چېري یو څوك په فاسق سړي پسي اقتداء وکړي نو په مقتدي د لمانځه راگرځول ضرور بلکي واجب دي.

ځکه پدې شرط د نوموړي امام په مذهب کښې د اقتداء صحت راځي چي امام عادل وي.

نوموړي امام وائي په داسي صورت کښې چي د جمعې او عیدونو لمونځ تیار وي او امام موجود نه وي او امام ته ضرورت پیدا شي نو پدې صورت د فاسق شخص امامت کول جواز لري او اقتداء ورپسي صحیح کېږي.

[1] وهبهٔ زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۸۱مخ – حقانیه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې عادل امام پیدا شو نو هغه باید امامت وکړي ځکه د متقي او عادل امام په امامت کولو سره د جمعې زیاتوالی راځي او د خلکو نفرت لرې کېږي او د راتلونکو لمونځونو لپاره په جمع سره شوق ورته پیداکېږي.

خو امام مالك (رح) پدې اړوند وائي د امام عدالت شرط دی د فسق او یا نورو منهیاتو څخه به ئې ځان ساتلی وي خو هغه فسق چې د لمانځه تر امورو پوري متعلق وي مثلاً لکه څوك چې د لمانځه د فرضونو یا شرطونو د اداء په هکله سستي کوي او یا مثلاً غیر د اوداسه څخه لمونځ کوي.

که چېرې دامام فسق د لمانځه تر امورو پوري تړلی نه وي مثلاً کله چې امام زاني یا شراب خوړونکي وي امامت ئې صحیح کېږي بلکې مکروه والی لري – چې همدا د رائج مذهب قول دی. همداراز دوکتور وهبه زحیلي هم ددې مذهب په رحجان سره تائید کړی([1]).

3. **د امام مالك ، امام اعظم ابو حنیفه او امام احمد بن حنبل (رحمهم الله) د ټولو مذاهبو شرط دادی چې امام به د لمانځه راګرځوونکی نه وی:**

پدې هکله د ذکر شوو علماؤ نظر دادی چې په لمانځه راګرځونکي امام پسې دوختي لمانځه اداء کونکي یعني پداسې صورت کښې چې امام د قضاء شوي لمانځه (اعاده) کوي او د وختي لمانځه اداء کونکي مقتدي اقتداء ورپسې نه صحیح کېږي، ځکه د لمانځه راګرځونکي لمونځ په نفلي لمانځه کښې حسابېږي او د فرضي لمانځه اداء کونکي اقتداء په نفل کوونکي پسې د وروسته نه صحیح

[1] وهبهٔ زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۸۲مخ – حقانیه پېښور- ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کبړي – بلکي يو بل مهم او ضروري شرط پدې اړوند دادی کله چي کوم شخص د يوه قوم امامت کوي د لمانځه د شرطونو او ارکانو په کيفيت بايد عـالم وي مـثلاً لکه اودس کول يا وخت پېژندنه او داسي نور.

## د امامت مکروهات او هغه اشخاص چي امامت يې مکروه دی

### ۱- د فاسق سړي امامت مکروه دی:

د فاسق سړي کـه څـه هم د خپـل هم مثلـه امامـت وکـړي هـم امامت يـي مکـروه دي. همدغه نظريه د مالکيه وو او شافعيه وو او حنابله وو علماء وو ده دوي وائي چي په فاسق امام پسي لمونځ مکروه دی ځکه چي په ديني امورو کښي غور نکوي نو بناءً په همدې دليل امامت ئي هم مکروه دی خو ليکن بيا هم د امام احمد بـن حنبـل (رح) په مذهب د جمعې او عيد لمونځ ترې استثنٰی کړی وائي چي پدې لمونځو کي ئې امامت صحيح کېږي پدې شرط چي ضرورت وليدل شي او عادل امام نوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام اعظم ابو حنيفه (رح) مذهب پدې هكله وائي د فاسق امامت كول د خپل هم مثله لپاره صحيح كېږي يعني كه چېري يې همدغه شان فاسق امامت وكړ جواز لري او د نورو خلكو لپاره جواز نلري او امامت ئې د هغوي لپاره مكروه دى.

د مكروه والي دليل ئې چي د فاسق امام امامت كول مكروه دى دا حديث د پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) دى چي ابن ماجه د حضرت جابر (رض) د رسول الله (ص) څخه روايت كړى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: [لاتؤ من امراةً رجلاً و لا اعرابي مهاجراً ولا يؤ من فاجرمؤمناً الاان يقهره بسلطان يخاف سيفيه او سوطه] ([1])

ژباړه: امامت دي نه كوي ښځينه د نارينه وو او امامت دي نه كوي اعرابي د مهاجرينو او امامت دي نه كوي فاجر او فاسق شخص د مؤمن سړي مگر خو بيا هم په هغه وخت كښې يې كولاي شي چي د توري او قمچين څخه ئې وېرېږي. دائي دليل د كراهيت دى اما كوم صحت د امامت دى هغه خو صحيح كېږي ځكه هغه حديث چي شيخانو روايت كړي هغه د لمانځه په صحت سره دليل دي. [ان ابن عمر كان يصلي خلف الحجاج] او [صلو خلف كل بروفاجر][2]

ژباړه: ابن عمر رضى الله تعالى عنه په حجاج بن يوسف پسي لمونځ او اقتداء كوله او په همدې توگه ئې داسي روايت كړى چي ستاسي لمونځ او اقتداء وكړى په هر فاسق او فاجر پسي.

[1] محمد بن علي شوكاني – نيل الاوطار – دريم ټوك ۱۹۹ مه ص دارالجيل بيروت د چاپ كال ۱۹۷۳
[2] محمد بن علي شوكاني – نيل الاوطار – دريم ټوك ۱۹۹ مه ص دارالجيل بيروت د چاپ كال ۱۹۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدغه راز د فاسق او مبتدع د امامت کولو په هکله شیخ سید سابق (رح) په خپل کتاب فقه السنة کښې لیکي چي همدې دلیل سره د علماءو نظر هم زیات موافقت لري دادی چي وائي هر هغه ځوك چي لمونځ ئې په انفرادي توگه یعني د ځان لپاره صحیح شي د نورو خلکو لپاره یې هم لمونځ صحیح کېږي خو بیا هم ددې دلیل سره سره د اسلامي فقهي علماؤ د فاسق او مبتدع امامت مکروه کڼي ځکه هغه حدیث چي ابو داؤد او ابن حبان له سائب بن خلاد څخه روایت کړی چي یو شخص د یوه قوم امامت کاوه او د قبلې شریفي طرفته ئې لاړي تو کولې او رسول الله (صلي الله تعالی علیه وسلم) ورته وکتل نو رسول رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل: [لا یصلي لکم](1)

ژباړه: دا شخص دي ستاسي امامت نکوي په هغه وخت کي چي دې شخص د امامت کولو اراده وکړه او غوښتل یې چي امامت وکړي نوموړی (امام) ئې له امامت څخه منع کړاو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په امر ئې خبر کړ. نوموړی (امام) رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغي او دا جریان ئې ورته بیان کړ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په جواب کي ورته وویل هو ما امر کړی .... ځکه چي تا خدای (ج) او رسول الله (ص) ته ضرر رسولی دی او نا لائق کار دي کړی، بناء په همدې دلیل د اسلامي فقهي علماء د فاسق او مبتدع شخص امامت مکروه گڼي(2).

۲ – د بدعت کونکي امامت مکروه دی:

1 محمد بن علي شوکاني – نیل الاوطار – دریم ټوك ۱۹۹ مه ص دارالجیل بیروت د چاپ کال ۱۹۷۳ م
2 شیخ سید سابق – فقه السنة – لومړي ټوك ۲۰۱مخ – دارالفکر- د چاپ کال ۱۴۰۳، څلورم چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مبتدع یا بدعت کونکي امامت د اسلامي فقهي علماء مکروه ګڼي لیکن هغه بدعت کونکي چي پدې بدعت سره کافر نه ګڼل کېږي، مثلاً لکه فاسق خو د فاسق څخه ښه دی. مبتدع یا په دین کي د نوي کار پیدا کونکی هغه شخص ته ویل کېږي چي دده عقیده د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه خلاف وي. دا خلاف ئې په قصد سره نه بلکي د سهوي له کبله وي خو که چېري مبتدع د دین د بدهي او ضروري امورو څخه منکر سي نو کافر ګڼل کېږي. لکه خدای (ج) ته د جسم ثابتول یا لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابو بکر صدیق (رضی الله تعالی عنه) له ملګرتیا څخه انکار کول او حال داچي دا په قطعي نصوصو سره ثابت شوی [اذا یقول لصاحبه] هغه وخت چي رسول الله وویل ابو بکر صدیق رضی الله تعالی عنه ته وویل چي مه غمجن کېږه خدای (ج) له موږ سره دی نو چي لدې ډول صریحي نصوصو او دلائلو څخه منکر شوی وي یو د اسلامي فقهي د ټولو علماؤ په اتفاق سره ددې ډول مبتدع امامت کول نه صحیح کېږي[1].

3. د ړانده امامت مکروه دی:

د امام اعظم ابو حنیفه، امام مالك او امام احمد بن حنبل (رحمها الله) په مذاهبو د ړانده امامت مکروه دي خو لیکن دا کراهیت ئې تنزیهي دی نه تحریمي، ځکه چي ړوند د نجاست څخه ځان نشي ساتلی خو بیا هم امام ابو حنیفه (رح) یو صورت ترې استثنٰی کړی. هغه حالت دادي چي ړوند شخص اعلم د قوم وي، یعني په ټول قوم عالم وي بیا ئې امامت کول ندي مکروه او د امام شافعي (رح) په مذهب د ړانده امامت صحیح دی – او جواز ئې ورته ورکړی بدون د مکروه والې څخه،

[1] وهبه زحیلي – فقه اسلامي و ادلته – دوهم ټوك ١٨٧مخ – حقانیه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چي ړوند شخص ئې په جوړ (دسترګو خاوند) ورقياس کړی بناءً د ړانده شخص امامت صحيح دي ځکه د نوموړي امام د مذهب دليل دادی چي ړوند شخص په امامت کي ډير خاشع، عاجز او متضرع وي نو ځکه ئې امامت صحيح دی. نوموړی امام زياتوي چي د ړانده امامت د ټولو علماؤ په نظر صحيح دی دليل ئې د ابن عباس (رضی الله تعالٰی عنه) صحيح حديث رانقل شوی چي فرمائي: [ان النبي صلى الله عليه وسلم استخلف ابن ام مكتوم يؤم الناس و هو اعمٰى(1)]

ژباړه: حضرت آبن عباس رضی الله تعالٰی عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نقل کوي وائي چي رسول الله (ص) به ابن ام مکتوم خليفه ګرځاوه په لمانځه کښې نوموړي به په خلکو امامت کاوه حال داچي دی ړوند ؤ. ځکه ړوند والی داسي يوه خاصه ده چي د لمانځه افعال او يا مثلاً د لمانځه شرطونه هيڅ نه پرې ګډوډ کېږي دا ړوند د (فاقد الشم) سره مشابهت لري. نو فاقد الشم يعني ورکونکی د ځراغ جوړ سړي دي اقتداء ورپسي صحيح ده. بناء په همدې اساس په ړانده پسي هم اقتداء صحيح ده – همدارنګه ړوند، بې سترګو، اعمٰی (شب کور) يا هغه شخص چي د شپې له طرفه څه نهويني د جوړ سړي په حکم کي دی او امامت کول ئي صحيح دي نو ړوند هم د هغه په حکم کي دي.همدارنګه ئي ګونګ هم په ړانده باندي ورقياس کړی او د هغه په حکم کي دی ليکن د حنابله وو مذهب پکښې داده چي امامت کول ئې صحيح کېږي، همدارنګه قاضي ابو علي پدې هکله وائي چي (قطع اليدين) هغه شخص چي لاسونه ئې قطع شوي وي ددې شخص امامت هم صحيح کېږي دا په يوه روايت کي وائي او په بل روايت کي وائي

---

1 وهبه زحيلي – فقه اسلامي ادلته – دوهم ټوك ١٨٧ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت - .

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د قطع اليدين امامت نه صحيح كېږي او همدارنګه يي قطع الرجلين – يعني هغه شخص چي دواړي پښې ئې قطع شوي وي امامت ئي نه صحيح كېږي.([1])

### 4. د هغه شخص امامت مكروه دى چي خلك پرې راضي نوي:

د هغه شخص امامت مكروه دى چي خلك پرې راضي نوي او يا ورته د كراهيت په سترګه ګوري بلكي دا كراهيت د احنافو په مذهب سره مكره تحريمي دى ځكه حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم دى چي فرمائي [لا يقبل الله صلوٰة من تقدم قوماً و هم له كارهون]([2])

ژباړه: نه قبولوي خداي (ج) د هغه شخص لمونځ چي دى د يوه قوم امامت كوي او خلك پرې راضي نه وي.

همدارنګه پدې هكله له ابي امامة (رض) څخه روايت شويدى چي فرمائي: [ثلاثة لا تجاوز صلوتهم اذانهم و امام قوم و هم له كارهون]([3])

ژباړه: له ابي امامة (رض) څخه روايت شويدى وائي چي: درې كسان دي چي ددوي لمونځونه نه قبلېږي چي د هغو له شمېرې څخه هغه امام دى چي د قوم خوښ نه وي. او همدارنګه پدې هكله استاذ الفقهاء الامام قاضي خان الحسن بن منصورپه خپل كتاب كښې ليكلي دي چي كه چېري يو شخص د يوه قوم امامت وكړي خوپداسي حال كښې چي قوم ددې شخص په امامت راضي نه وي، نو كه

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي ادلته – دوهم ټوك ۱۸۸ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت - .
[2] سليمان ابن شعيب – ابي داؤد – دوهم ټوك – ۸۸ مخ – الداعيه پېښور – ب – ت .
[3] محمد ابن علي شوكاني -

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېري ئې دغه کراهيت ګڼل د فساد له وجهي څخه وي او يا پداسي وجه وي چي قوم ئې په امامت سره غوره وي په نسبت ددي امام سره کېداي شي پدې وجه سره پدې امام ناراضي وي. او که چېري دا شخص (امام) چي امامت ددې قوم کوي په امامت سره حق او غوره وي ددې شخص امامت مکروه نه ګڼل کېږي ځکه چي د جاهل او فاسق سړي دا خاصيت دی چي د علماؤ سره جوړ نه راځي.[1]

5. د لمانځه اوږدوالي په قوم مکروه دی داسي چي دا اوږدوالی د نسبت تر اندازې ازيات وي چي په قرائت او يا نور ذکرونو کښليکن دا مکروهوالی د احنافو علماؤ په مذهب تحريمي دی که چيري قوم نه وي پرې راضي.

٢ – د امام شافعي او امام احمد بن حنبل ( رحمهماالله ) مذهب:

امام شافعي او امام احمد بن حنبل (رحمهماالله) مذهب هم اوږدوالی د لمانځه يا جماعت په قوم مکروه ګڼي ليکن حالت د رضائيت ئې ترې استثنٰی کړی دی. د جماعت په لمانځه کي پداسي حال کښې چي يو شمېر محدود مقتديان او د هغوي شوق هم دې ته وي چي امام بايد زيات قرائت په لمانځه کښي ووائي مکروه نه ګڼل کېږي، صحيح دی. خو اوږدوالی د قرائت مستحب دی دليل د هغه علماؤ چي اوږدوالی په لمانځه کښي مکروه ګڼي د ابي هريره (رض) حديث دی چي د حضرت پيغمبر (ص) څخه نقل کوي – رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي: [ اذا صلي

[1] حسن بن منصور – قاضيخان – لومړي ټوك – ۴۵مخ حقانيه پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احد كم بالناس فاليخفف فان فيهم الضعيف والسقيم والكبير فاذا صلى لنفسه فليطول ماشاء] ([1])

ژباړه: ابي هريره رضي الله تعالىٰ عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائي: په هغه وخت كښې چي يو له تاسي څخه امامت كوي په خلكو سپكوالى او تخفيف دي كوي ځكه پدوي كښې به ضعيف او مريض او كبير يعني د زيات عمر خاوند به وي او په هغه وخت كي چي يوازي لمونځ كوي يو شخص نو اوږدوالى دي پكښې كوي په هغه اندازه چي څومره ئي خوښه او اراده شي مفهوم او مطلب ددې حديث دادى چي لنډوالى دي كوي امام په قوم سره خو سره له پوره والي د تسبيح او يا نور جزونه د لمانځه كښې – همدارنگه پدې رابطه ليكي چي تخفيف د امام په قوم سره مستحب دى او يو حديث پدې هكله چي شيخانو د انس (رض) روايت كړى فرمائي: [ماصليت خلف امام قط أ خف صلوة ولا اتم صلوة من النبي صلى الله عليه وسلم]([2])

حضرت انس (رض) فرمائي چي ما لمونځ ندى كړي په هيڅ يوه امام پسي چي ډير سپك (اخف) او ډير پوره په ټولو ركنونو او شرطونو سره وي غير د حضرت رسول الله صلي الله عليه وسلم د لمانځه څخه همدارنگه ابو عمر بن عبدالله ليكي د هر امام لپاره يو امر شته چي په هغي سره اتفاق شوي چي د امام تخفيف په قوم سره مستحب دى ليكن پداسي اندازه تخفيف او سپكوالى چي د لمانځه په اصلي ركنونو، شرطونو او يا نورو ذكرونو كښې كمبود رانه ولي كه چيري كمبود او

[1] محمد بن اسماعيل البخاري – لمړى ټوك ۹۷ مخ – قديمي كتابخانه ارام بازار د چاپ كال۱۹۳۸م.
[2] امام مسلم – صحيح المسلم – اول ټوك ۱۸۸مخ- اكرميه پيښور – د چاپ كال ۱۳۴۹دهلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقصان راولي نو لمونځ نه صحيح کېږي. وروسته وائي چي پدې اړوند د اسلامي فقهي د علماؤ تر منځ هيڅ اختلاف نشته چي په قمخ تخفيف کول په لمانځه کښې مستحب دي.. ([1])

## 6. په لمانځه کښې د امام انتظار د مقتديانو لپاره چي اقتداء ورپسې وکړي مکروه ګڼل کېږي:

### ١- د جمهورو علماؤ مذهب:

د جمهورو علماؤ په نظر په لمانځه کښې دننه د امام انتظار کول د نورو خلکو لپاره مکروه دی مثلاً امام په لمانځه کي داخل دي او د نور خلکو اواز ئې واوريدی نو امام انتظار ورته وکړي تر څو دغه خلك لمونځ ورسره ونيسي ځکه د امام انتظار کول د مقتديانو لپاره په عبادت کښې شريکوالی دی دا جواز نلري اوکراهيت منځته راوړي لدې کبله چي د لمونځ کوونکو څخه مشقت او تکليف رفع شي. هغه څوك چي د امام سره د لمانځه د اول سره څخه شريك وي ډېر حق لري په نسبت د هغه خلکو چي هغه د لمانځه څخه خارج يا وتلي وي او امام ورته انتظار کوي.

### ٢- د امام شافعي (رح) مذهب:

امام شافعي (رح) پدې هکله ليکي چي د امام انتظار کول مقتديانو ته د لمانځه د نيولو لپاره مستحب دی، پداسي حال کي چي د امام اراده داوي چي داخلك راشي

---

[1] شيخ سيد سابق فقه السنة – لومړی ټوك – ١٩٥مخ – دارالفکر – د چاپ کال ١۴٠٣ ه ق – څلورم چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په ده پسي وروسته اقتداء وکړي. که په قیام، رکوع اویا دوهمه قعده کښې امام ناست وي نو د مقتدیانو لپاره انتظار وکړي تر څو جماعت ورسره ونیسي خو بیا هم پدې شرط سره چي انتظار کول ډیر زیات نشي.

مثلاً که چېري انتظار په ټول لمانځه سره وسي نو په هغي کي به ئې اثر ښکاره نشي البته دا خبره هم ثابته ده چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به انتظار کاوه او لومړی رکعت به ئې دومره اندازه اوږداوه چي د پښو اواز ئې اورېدل کېده او همدارنګه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) جماعت کولو ته هم انتظار کاوه – اول انتظارد رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په صلوٰة خوف کښې وو تر څو هغه دوهمه طائفه د خلکو لمونځ ورسره ونسي. بیا هم ابن قدامة الحنبلي الشافعیة او قاضي له حنابله ؤ څخه خپل نظر پدې هکله داسي څرګندوي: وائي چي په لمانځه کي د امام انتظار کول د مقتدیانو لپاره (جائز) خو مستحب ندی او طبعي خبره ده چي د علم خاوندانو، فقهاؤ، محدثینو علماؤ لپاره معمولاً انتظار کول کېږي.([1])

همدارنګه پدې هکله شیخ سید سابق (رح) په خپل کتاب فقه السنة کښې لیکلي: چي د امام انتظار کول د قوم اړوند ددې لپاره چي مقتدیان جماعت ونیسي مستحب دې ځکه د ابي سعید څخه حدیث نقل شوی چي فرمائي: [لقد کانت الصلوٰة تقام فیذهب الذاهب الی البیقع فیقضٰی حاجته ثم یتوضاء ثم یاتني والرسول الله صلی الله علیه وسلم في الرکعته الاولٰی فمایطولها]([2])

---

[1] وهبه زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوک – ۱۹۰مخ – حقانیه پېښور – ب – ت.
[2] شوکاني محمد ابن علي – نیل الاوطار دریم ټوک – ۱۶۹ مخ – دارالجیل بیروت دچاپ کال ۱۹۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: حضرت ابي سعيد رضي الله تعالى عنه فرمائي چي لمونځ ودريده نو پس تلونكي شخص به بيقع ته تللو او هلته به ئې حاجت پوره كاوه بيا به ئې اودس كولو كله به چي راغلى رسول الله صلى الله عليه وسلم به په لومړي ركعت كي وو او تر دې وخته پوري به ئې اوږد كړې ؤ نو بناء په همدې اساس د امام انتظاركول د مقتديانو لپاره مستحب دى ځكه چي پدې كښې د جماعت زياتوالى راځي او ټول خلك د جماعت په لمانځه كي شريك كېږي.

7. د هغه امام امامت مكروه دى چي (كثيراللحان) وي :

يعني دومره اندازه لحن كوي چي معنٰى ته په صريح ډول سره تغير نه ورځي لكه لفظ د (الحمد الله رب العالمين) مثلاً لكه ددال (د) حرف ته جر وركول او يا حرف ها (ه) ته نصب وركول او يا حرف باء (ب) ته د (رب) نصب وركول او داسي نور البته امامت ئې په هغه چا صحيح كېږي چي هغه كثير اللحن نه وي ځكه نومړي شخص په فرض قراءت سره اداء كړيده بيا هم مكروه والى لري، لكه څرنگه چي د اصلي متن حكم هم داسي دى.

8. د هغه شخص امامت مكروه دى چي د ځينو حروفوپه اداء كښې فصاحت ونه لري لكه د ضاد (ض) يا قاف (ق) حروف د جمهورو علماؤ په نظر غير د احنافو څخه. كه عربي وي او يا عجمي امامت ئې صحيح دى ځكه چي دوي دا حرفونه اداء كولاى شي خو بيا هم مكروهوالى لري.([1])

9. داعرابي امامت مكره دى: هغه شخص چي په صحراگانو كي كي ژوند كوي ولو كه په سفر او يا اقامت كښي وي هم امامت ئې مكره دى لېكن بيا هم د

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۹۰مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل هم مثله لپاره صحیح کېږي. چې په دې هکله امام اعظم ابو حنیفه (رح) د ترکمنو – کردیانو ،عامي – ټول د اعرابو په جمع کې راوستلي دي نو ځرنګه چې د اعرابیانو امامت مکروه دی نو همدارنګه دیاد شویو خلکو امامت هم مکروه دی ځکه علت د مکروهوالي د امات ئې دادی چې په دوي کې جهل زیات وي نو جاهل شخص که اعرابي وي او یا حضري امامت یې مکروه دی خو پداسي حال کې چې عالم شخص موجود وي امام احمد بن حنبل (رح) وایي چې د اعرابي شخص امامت باك نلري او امامت یې صحیح کېږي خو لیکن داضرور ده چې په دیني علومو کې به مهارت لري یعني دیني تعلیم به یې کړی وي.

10. د امام درېدل په لوړ ځاي کې له مقتدیانو څخه لمونځ مکروه کوي د یوه ګز په اندازه او یا زیات له یوه ګز څخه چې وي کېدای شي چې پدې هکله به ان شاء الله په راتلونکي فصل کې په مفصل ډول سره معلومات تر لاسه کړو.

11. د ولد الزنا (حرامي) امات مکروه دی:

ا- جمهور علماء غیر د حنابله ؤڅخه د ولد الزنا یا حرامي امامت کول د نورو خلکو لپاره مکروه ګڼي، دا پداسي صورت کې چې نور خلك موجود وي او حرامي امامت کوي ځکه چې د امامت د مکروهوالي علت ئې دای چې د ولد الزنا یا حرامي خو پلار نشته چې دیني علم ورزده کړي اودډین ښودنه ورته و کړي نو په هدې خاطر نوموړی جاهل پاتي کېږي او داچې د خلکو نفرت هم ترې کېږي، بناءً د ولدالزنا امامت مکروه دی.

ب- احناف علماء پدې هکله خپل نظر داسي څرګندوي: پداسي حال کې چې د ولدالزنا یا حرامي امامت کول مکروه دي خو که چېري متقي او پرهېزګاره عالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځخه جوړ شوی وي نو امامت کول يې صحيح او جواز لري، ځکه چي د امامت مکروه والی د ځينو نيمګړتياو له کبله دي نه د ولدالزناء د ذات په خاطر.

ج- امام مالک (رح) وايي: که چېري د دائمي يا همېشه لپاره امام وي نو امامت کول ئې مکروه دي او که په ځينو ځايونو کي امامت وکړي نو بيا صحيح او جائز دی بدون له مکروهوالي څخه.

د- امام شافعي (رح) وايې: چي د ولد زنا امامت د خپل هم مثله لپاره صحيح کېږي،او د نورو خلکو لپاره مکروه دی.([1])

 څرنګه چي مو په لومړنيو شمارو کي هغه مکروهات ياد کړل چي د ټولو علماؤ مذاهب پکښې ذکر شوي وو. اوس دلته د امامت يو شمېر نور مکروهات دي چي په ځانګړي توګه د مذهبونو نظرونه پکښې راغلي دي او د يوه خاص مذهب څخه نمايندګي کوي مثلاً:

## 1. د امام اعظم ابو حنيفه (رح) مذهب:

پدې ځاي کي هغه شيان ذکر شوي چي د لومړنيو شمارو سره يو څه توپير لري هغه داچي د امام صاحب په نظر د (امرد) واړه هلکان يعني لغړزني امامت کول مکروه تنزيهي ګڼي –که څه هم په ټول قوم کي عالم وي بيا يي هم امامت مکروه دی – پداسي صورت کي چي ددې هلك په امامت کولو سره وېره منځته راځي. مثلاً لکه د شهوت په نظر ورته کتل – که د فتنې وېره نوي نو بيا ئې امامت صحيح او

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۹۱مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کراهیت نلري چي صحیح قول همدغه دی. همدارنګه د (سفیه) یعني هغه شخص امامت مکروه دی چي تصرفات یې د عقل په مقتضٰی اوپه شریعت نوي برابر امامت کول یې مکروه دي. همداراز د فلج سوی شخص هم امامت مکروه دی – همدارنګه د برګ (پیس) مرض، مجذوم، مجهوب او هغه چا چي بولي په پیچکاري ترې خارجوي همدارنګه د کوږ یعني هغه کوږ چي په ځینو پښو سره دربدلای سي چي لاس یې غوڅ وي –د شرابو څښونکی، سود خوړونکی، او نمیم یعني هغه شخص چي د خلکو ترمنځ د فساد د تیت او افشاء کولو لپاره خبري وړي، ریا کار (یعني هغه ریا کار چي قصد یې داوي چي خلګ یې ووینې، متصنع یعني هغه څوك چي یو نوع تکلف تېروي د عبادت د تحسین لپاره، هغه امام دی چي په اجوره نیول شوی وي پداسي حال کي چي مقیده اجوره ورته معلومه شوې وي او که اجوره نه وي ورته معینه شوې نو بیا هم نه مکروه کېږي ځکه چي دا په صدقه سره ورقیاس کېږي، همدارنګه د ښځینه وو امامت کول هم مکروه ګڼل کېږي. لکه څرنګه چي مو لومړی پدې هکله مفصل معلومات بیان کړل. نو ددغه یاد سویو ټولو خلکو امامت کول مکروه ګڼل کېږي، البته د یاد شویو اشخاصو امامت تنها د احنافو په مذهب کي مکروه دی.([1])

## 2. دامام مالک (رح) مذهب:

د نوموړي امام په نظر د هغه اشخاصو امامت مکروه دی چي شرعي او یا دایمي مریضان وي مثلاً په مسلسل توګه د بولو یا باد جاري والی ولري او داسي نور لکه دانه لرونکی شخص چي زیات دوام ولري لکه سالدانه چي ورته وایي د جوړ

[1] وهبه زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۹۵ مخ – حقانیه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړي لپاره يې امامت مکروه دی . همدارنګه د ناسنت شوي او مجهول النسب امامت مکروه دی ځکه دا معلومه نده چي ایا دغه سړی عادل دی او که فاسق دی نو بناء په همدې اساس امامت کول ددې ډول اشخاصو مکروه ګڼل کېږي.

## 3. دامام شافعي (رح) مذهب:

همدارنګه يو شمېر اشخاص چي د نوموړي امام په نظر ددوي امامت مکروه ګڼل کېږي مثلاً:

**ا- د هغه امام امامت کول مکروه دي چي په زور سره امام شوی وی بلکي ددې امامت مستحق نوي.**

**ب- هغه شخص چي د نجاست څخه ځان نشي ساتلای.**

**ج- هغه شخص چي په خسيس کسب سره مصروف وي، لکه ښکر لګول.**

**د- دهغه شخص امامت کول مکروه دي چي پلار يې مجهول وي.**

**ه- د الزناامامت مکروه دي، ليکن بيا هم د نوموړي امامت د خپل هم مثله لپاره صحيح دی بلکی د نورو خلکو لپاره ندی صحيح، همدارنګه د ناسنت شوي امات مکروه دی که څه هم بالغ وي او د وړوکي هلك امامت مکروه دی که څه هم د ټول قوم عالم وي.**

**و- هغه څوك چي تکرار د حرفونو کوي او يا کثير اللحن وي امامت ئې مکروه ګڼل کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ز- **د مخالف مذهب امامت کول مکروه دي.**

ح- **له مقتديانو څخه د امام په لوړ ځاي درېدل مکروه دي بغير د ضرورت څخه – همدارنګه ئې عکس ددې مسئلې مکروه دی بغير د ضرورت څخه مثلاً لکه تنګوالی د مسجد – نو بالاخره د ياد شويو اشخاصو امامت کول د نوموړي امام د مذهب په فروعو کې مکروه ګڼل کېږي.**([1])

## 4. د امام احمد بن حنبل (رحمة الله عليه) مذهب:

د امام احمد بن حنبل (رح) په مذهب کې څرنګه چې مو مخکې ورته اشاره وکړه د يوشمېر خلکو امامت کول په ځانګړي ډول په دغه مذهب کې مکروه ګڼل سوي:

آ- **د ړانده يعني بې سترګو شخص امامت کول مکروه دی.**

ب- **شب کور (اعمٰی) هغه شخص ته ويل کېږي چې د شپې په وخت کې ئې سترګې څه نه ويني دنوموړي شخص امامت کول مکروه دي.**

ج- **د کوڼ او ګونګ شخص امامت کول مکروه دي (اصم) هغه شخص په ويل کېږي چې نه څه ويلی شي او نه اورېدلی شي ددې شخص امامت مکروه دي.**

د- **د هغه شخص امامت مکروه دی چې دواړه لاسونه يې قطع وي او يا يې يو لاس قطع وي.**

---

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۹۵ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ه-  د مقطوع الرجلین امامت کول د جوړو خلکو لپاره مکروه دی - مګـر که چېري بیا هم صحیح شي نو د خپل هم مثلـه لپـاره صـحیح کېـږي ځکـه دا شخص د قیام یعني دریدلو څخه مایوسه شـوی وي نـو امامـت یـې نـه صـحیح کېږي، ځکه دا شخص داسي دی لکه دایمي مریض، بیا هم پـه صـحیح روایـت کي ئې امامت کول صحیح کېږي خو مکروه والی لري، لیکن پـه هغـه صـورت کي چي امکان دد‌ریدلو ولري ځکه یو شرط د شرطونو د امامت څخه قیـام دی امکان لري چي په هغه باقي پښه سره دا شخص قیام وکولی شـي او یـا احتمـال لري چي مصنوعي پښه ئې جوړه کړې وي.**

**و-    د هغه شخص امامت مکروه دی چي پوزه ئې پرې (قطع) شوې وي.**

**ز-    د هغه شخص امامت مکروه دی چي خنده روي او یا مثلاً صورت یـې د خندا په ډول جوړ کړی وي.**

**ح-   د هغه شخص امامت مکروه دی چي د خلکو اختلاف وي پکښي چي ایا ددې شخص امامت صحیح کېږي او کنه – نو بناء په همدې اساس امامت کول ئې مکروه دي.**

**ط-   د هغه شخص امامت مکروه دی چي د قرائـت لوسـتلو پـه وخـت کـي حرفونه تکراروي.**

**ي-   د هغه شخص امامت مکروه دی چي ځیني حروف صحیح په وضـاحت سره نشي اداء کولی – مثلاً ضاد (ض)  او قاف (ق).**

**ک-   د هغه شخص امامت مکروه دی چي له مقتدیانو څخه په لوړ ځـای ولاړ وي د ګز په اندازه او یا زیات د یوه ګزه څخه خو بر عکس ددې مسئلې کراهیـت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نلري، مثلاً که څه اندازه مقتدیان د امام څخه لوړ ولاړ وي نو مکروه نه ګڼل کېږي.**[1]

**ل- د هغه شخص امامت کول مکروه دي چې د ښځينه وو امامت کوي هغه ښځينه چې بې ګانه اويا بل شخص نه وي ورسره ځکه پدې هکله يو حديث شريف نقل دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي:** [نهي ان يخلوالرجل بالاجنبيه].[2]

**ژباړه:** رسول الله صلی الله عليه وسلم منع کړي ددې څخه چې يو شخص د بې ګانه ښځو سره په يوه کوټه يا اطاق کښې پاته شي. ځکه پدې کښې د امام لپاره وسواس پيدا کېږي، چې پورتنی حديث ئې د مکروهوالي دليل ګرځي. اما که چېري د محرماتو يعني هغه ښځو امامت وکړي چې هغه يې محرمي وي لکه مور يا خور او داسي نور او يا خو بېګانه ښځي وي ليکن د هغه سره يو نارينه وي بيا کراهيت نلري، ځکه زياتي ښځي د رسول الله صلی الله عليه وسلم په وخت کي جماعت ته حاضري سوي او ده مبارك ئې امامت کړي خو نارينه به ور سره وو.

**م- د هغه شخص امامت کول مکروه دي چې دده په نسبت نور خلك ډېر بهتر ه او عالمان وي ځکه دليل يې ددې حديث مضمون دی چې:**

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: په هغه وخت کي چې امامت کوي يو شخص د قوم پداسي حال کي چې پدې قوم کي له دې امام څخه بهتر او احق په امامت سره وي نو هميشه به دوي په ټيټ والي کي وي يعني اشاره دې ته ده کوم

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۹۶ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.
[2] امام صفاني – بسلالاسلام – دوهم ټوك – ۱۸۳ مخ – دارالسنة –ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضیلت چي په هغه اشخاصو علماؤ پسي اقتداء کول دي د هغه په نسبت د ذکر شوي شخص فضیلت کم لري.

خو بالمقابل یو شمېر نور خلك دي چي امامت يې صحیح دی د نوموړي امام په مذهب سره مثلاً لکه:

- ❖ ولد زنا حرامي یعني چي مور او پلار يې نوي معلوم.
- ❖ لقیط: هغه شخص چي پېدا سوي وي خو کوم نسب ئې نوي معلوم.
- ❖ هغه شخص دی چي د لعان په سبب سره شړل شوي وي او د وطن څخه تللی وي.
- ❖ هغه شخص دی چي خصي شوی وي.
- ❖ هغه شخص چي مسکر وي.
- ❖ هغه شخص دی چي اعرابي، بادیه نشین وي. **خو ددې خلکو امامت کول هغه وخت صحیح دی چي په دیني امورو کښې معلومات ولري نو دوي مستحق د امامت گرځي او اقتداء ورپسي صحیح ده- ځکه چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث په عامه معنٰی راغلی:**([1])

[ یؤم القوم اقراءهم] . ([2]) ژباړه: امامت دي کوي د قوم هغه څوك چي د قرآنکریم لوستونکی وي ځکه داسي نقل راغلی چي د خپل عصر خلکو به په خلف بن زیاد پسي اقتداء کوله نوموړی د هغه چا څخه وو چي په نسبت د قبیلې یا قوم دده کښې د علماؤ اختلاف وو ، د نوموړي په هکله حضرت عائشه صدیقه (رضی الله

[1] وهبه زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۹۷ مخ – حقانیه پېښور – ب – ت.
[2] الحسین ابن مسعود – مشکوة المصابیح – لومړی ټوك – ۱۰۷مخ- اکرمثه پېښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی عنها) فرمائي: [ليس عليه من وزرا بو يه شی] ژباړه: نشته په ده سره له گناهونو د مور او پلار څخه یو شی یعني د هغه گناهونو مسئول نه گڼل کېږي.

همدارنگه قرآني آیت هم وړاندي کوو: [ولا تذرو وازرة وزرأ ُ خرٰی..] ([1]). یعني نه نیول کېږي یو شخص د بل شخص په گناه سره او بل داچي هر یو د یاد شویو اشخاصو څخه نارینه دی او د اسلام په دین سره خوښ دی کولی شي چي امامت وکړي لکه څرنگه چي نور خلك د امامت کولو مستحق دي – همدارنگه نوموړی هم مستحق د امامت کولو دی.

څرنگه مو چي مخکي هم دې خبري ته اشاره وکړه چي یو تعداد مسائل تر یاد شویو مذهبونو پوري خاص دي – ځکه چي په عمومیاتو کي مو د امامت صحت او کراهیت د هر ډول اشخاصو په هکله مفصل بیان وکړ. دا یوشمېر هغه اشخاص وو چي تر مذهبونو پوري خاص او کراهیت د امامت یې د همدې مذهب تر نظریې پوري خاص دي – که څه هم په عمومیاتو کښې مو هم اختلاف د مذهبونو ذکر کړ خو بیا هم ددوي نظرونه مو په جدا توگه په دې ځای کښې ولیکل. څرنگه مو چي پدې مطلب کښې هغه مسائل ذکر کړل چي هغه د امامت د صحت او یا کراهیت پوري اړوند وو، نو ان شاءالله په راتلونکي فصل کي به هغه مسائل یادکړو چي خاص تر امام پوري تړلي وي، مثلاً لکه د امام دریدل په د مقتدیانو نسبت سره چي آیا امام او مقتدیان باید چېري ودرېږي او ځیي نور مسائل لکه غوره او بهتره

[1] د بني اسلائيل سوره – آيت ١٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امامت سره څوك دى او نورو مسـائلو تـه بـه اشـاره وكـړو چـي د امامت تـر بحث پوري تړلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریم فصل

## د امامت خاص حکمونه

### غوره او بهتره په امامت کولو سره

غوره او بهتره په امامت کولو سره په شریعت کښې هغه څوك دی چې د لمانځه په احکامو په صحیح طریقه پوه او عالم وي لیکن دا مفهوم د عمومي فقهاؤ علماؤ دی چې پدې مفهوم سره ئې تشریح کړي. که څه هم فقهاء د خپلو مذهبونو په داخل کښې ځانګړي نظریې لري، د ټولو علماؤ نظریې به په مفصله توګه بیان کړو:

1. د امام اعظم ابو حنیفه (رحمة الله علیه) مذهب:

د امام ابو حنیفه رحمةالله علیه مذهب پدې هکله وائي غوره او بهتره په امامت کولو سره:

**ا- هغه شخص دی چې د لمانځه په احکامو عالم وي فقط د صحت او فساد له نظره خو پدې شرط چې د فسق او فحشاء څخه ځان وساتي او په هغه اندازه قرآن کریم ئې حفظ کړی وي چې د لمانځه صحت پرې راځي.**

**ب- بیا وروسته هغه شخص دی چې تلاوت د قرآن کریم په ښه طریقه او تجوید سره وکولای شي څکه د رسول الله صلیالله علیه وسلم حدیث دی چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرمــائي**: [يـؤم القـوم اقـراؤهم لكتـاب الله فـان كـانو فـى القـراءة سـواء فـاعلمهم بالسنته] ([1]).

ژبـاړه: رسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم فرمـائي: چـي امامـت دي كـوي د قـوم لوستونكى د قرآن كريم كه چېري د قـرآن پـه لوسـتلو كښـې سره برابر وو بيا هغه شخص دامامت وړ دى چي په سنتو ښه عالم او پوه وي.

**ج- بيا وروسته هغه شخص مستحق او غوره دى په امامت كولو چي متقـي او پرهېزگاره وي بلكي د مشبهاتو څخه ئـې هـم ځـان سـاتلى وي ځكـه تقـوى او پرهېزگاري د ځان ساتل له محرماتو او مشبهاتو څخه او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:**

[ان سركم ان تقبل صلوتكم فليؤمكم علماءكم فانهم و فدكم فيمابينكم و بين ربكم] ([2]).

ژباړه: تاسي خوشحالي كوئ داچي قبول دي شي لمونځونه ستاسي نو امامت دي كوي ستاسي علماء له تاسو څخه ځكه دوي يو ټولئ دي ستاسي او د خداى (ج) تر منځ نو بناء په همدې اساس امامت كول ئې هم غوره او بهتره ګڼل كېږي.

**د- بيا وروسته هغه شخص مستحق د امامت دى چي (مسن) يعني د زيات عمر خاوند وي، ځكه د كلان ساله يا د زياد عمر خاوند په امامت كښې زيـات خشـوع او عاجزي كوي د كلان ساله امام په امامـت كولـو كښـې د جماعـت زيـاتوالى راځي په همدې اړه د حضرت پيغمبر صلى الله عليه وسلم حديث دې چي ابـن**

[1] الحسين ابن مسعود – مشكوة المصابيح – لومړى ټوك – ۱۰۷مخ- اكرمڅه پينور.
[2] محمد ابن علي شوكاني – نيل الاوطار دريم ټوك – ۲۰۱ مخ – دارالجيل بيروت دچاپ كال ۱۹۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ابي ملکيه رضي الله تعالی عنه تـه فرمـائي:** [والیؤمکمـا اکبـر کمـا][1] ژبـاړه: او امامت دي کوي هغه شخص چي د عمر د وجهي څخه يې زيات وخت تېر شويوي.

**ه- بيا هغه شخص مستحق د امامت دی چي د نېکو اخلاقو خاوند وي يعنـي د خلکو سره ئې نېکه رويه او معامله کړې وي.**

**و- بيا وروسته هغه شخص مستحق د امامت دی چي د تهجد لمونځ کوي.**

**ز- بيا وروسته هغه شخص مستحق د امامت دی چـي نېـک، عـالم او شـريف نسبه وي.**

**ح- بيا وروسته هغه شخص مستحق د امامت دی چي کالي او جامه ئـې پاکـه وي. يعني د نظافت په مراعاتولو کښې زيات احتياط کوي.**

نو بالفرض که چېري داسي صورت منځ ته راشي چي په ذکر شوو ټولو شيانو کښې سره برابر وي پچه [قرعه کشي ] دي پخپل منځ کښې واچوي او پخپله هغه شخص دي امامت وکړي چي قوم ته زيات غوره او بهتره وي – او که چېري د قوم تر منځ اختلافات پکښې راشي نو بيا اعتبار د اکثره خلکو رائيو ته ورکول کېږي او بالفرض که چېري په دغه خلکو کښې پاچا وي نو بيا پاچا مستحق دی، وروسته امير مستحق دی، او بيا وروسته قاضي مستحق دی ، او بيا وروسته صاحب المنزل (هغه ځوك چي د همدې مسجد پـه مربوطه ساحه کې يې کور وي او خپل وطن ئې وي که څه هم دا کور يې په اجاره نيولی هم وي ځکه د رسول الله صلی الله

[1] امام مسلم – صحيح المسلم- لومړی ټوك – ۲۳۶مخ – قديمي کتابخانه د چاپ کال ۱۳۴۹- دهلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علیه وسلم حدیث دی چي فرمائي: [ من رازقوماً فلايؤمهم واليؤمهم رجل منهم] ([1]).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائي: چي څوك د يو بل چا زيارت کوي او د هغوي ځاي ته ورغلی وي نو امامت دي نه کوي بلکي امامت دي هغه څوك وکړي چي پخپله ددې قوم څخه وي نو بناء په همدې اساس ددې حديث په مقتضٰی سره پاچا لومړی دی او بيا قاضي دی نو که چېري داذکر شوي اشخاص نه وه نو بيا صاحب البيت او يا امام د مسجد يعني امام الحي ورته ويل کېږي چي دهمدغه نوع اشخاصو امامت کول تر ټولو بهتره ښودل شوېده.

په الدرالمختار کي امام الفقهاء علاؤالدين حصکفي حنفي ليکلي دي لکه څرنګه چي په فقه اسلامي و ادلته کښې ذکر شويدي په هغه ماده واره شکل ئې ليکلي دي خو ليکن بيا هم نومورى امام ليکي او زياتوي يعني وروسته له هغه شمارې څخه ليکي:

1) **بيا وروسته هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چي سر ئې لوي او اندامونه يې کوچني وي.**
2) **بيا وروسته مقيم په مسافر سره مستحق دی.**
3) **بيا وروسته حر (اصيل) په ازاد شوي غلام سره مستحق دی.**
4) **بيا وروسته هغه شخص مستحق د امامت دی چي متئمم د بې اودسۍ څخه وي په هغه متئمم يعني چي تيمم وهونکي د جنابت څخه وي –**

[1] الحسين ابن مسعود – مشكوة المصابيح – لومړی ټوك – ۱۰۷مخ- اکرمثه پيښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدارنګه ددې کتاب په فوائدو برخه کښې لیکلي چــې د مزاحمــت پــه وخــت کښې دي محراب په څوک نه وړاندي کېږي تر څو قوم غوره شوي شـخص نـه وي تعین کړی.**

5) **هغه شخص مستحق د امامت دی چي درسونه ئې تر ټولو لـومړی شـروع کړي وي.**

6) **هغه شخص غوره په امامت کولو سره دی چــي دار الآفتـاء ئـې لوسـتلی وي.**

7) **هغه شخص غوره دی چي دعوې ته ئې مراجعه کړېـوي د قاضــي حضـور ته. باالفرض که چېري سره برابر وه نوبیا دي پچه یعني (قرعه کشي) وکړي تر څو دغه مشکل پرې حل شي – همدارنګه تارخـانې فتـوٰی لیکلــي چــي پـه طالـب العلمانو کښې هغه شخص مستحق د امامت دی چي تر ټولو لومړی په سبق پسي وتلی وي نو که چېري اختلاف راشي او شاهدان وو خو صحیح ده او که چېري شاهدان هم نه وه بیا دي پچه (قرعه کشي) وکړي([1]).**

2. د امام مالک رحمة الله علیه مذهب:

د امام مالک رحمة الله په مذهب کښې:

ا- **تر ټولو غوره او بهتره په امامت کولو سره پاچا او یا نائب د پاچا دی که څه هم داسي مسجد وي چي هغه مقرر او تعین شوی امام هم ولري.**

[1] شیخ علاؤ الدین حصکفي – الدر المختار – لومړی ټوک ۸۲او ۸۳مخونه – دارالاشاعة العربیه – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب- بیا وروسته هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چي د همـدې مسـجد مقرر او تعین شوی امام وي چي په فقهي کتابونو کښې ورته د امام الحــي لقـب ورکړل شوی.**

**ج- بیا وروسته مستحق د امامت کولو هغه شخص دی چـي صـاحب المنـزل وي یعني د کور څښتن وي خو (مستاءجر) هغه څوك چي دا کور ئې پـه اجـاره سره نیولی وي د کور د مالك څخه غوره او بهتره دی ځکه مستاءجر د منـافعو د کور مالك دی او بالفرض[1] که چېري مالك د کور ښځه وي نو د ښـځي لپـاره ضرور ده چي داسي شخص نائب او قـائم مقـام ونیسـي چـي هغـه صـلاحیت د امامت کولو ولري ځکه چي د ښځینه امامت د نارینه ؤ لپاره نه صحیح کېږي نـو ضرور ده چي داسي یو شخص خلیفه تعین کـړي چـي هغـه مسـتحق د امامـت کولو وي.**

**د- بیا وروسته هغه شخص مستحق د امامت کولـو دی چـي هغـه فقیهـه وي یعني د لمانځه په احکامو سره عالم وي.**

**ه- بیا وروسته هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چي هغـه د حـدیثو پـه علم سره عالم وي د حفظ او روایت له رویه څخه.**

**و- بیا وروسته هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چي هغه لوسـتونکی د قرآن کریم وي یعني د قرآن کریم په لوستلو او د تجوید په قواعدو عالم وي.**

**ز- بیا وروسته هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چي هغـه ډېـر عبـادت کونکی وي مثلاً لکه لمونځ او روژه او داسي نور .**

[1] وهبه زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۸۴ مخ – حقانیه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ح- بیا وروسته هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چې اسلام ئې تر ټولو لومړی راوړی وي عام ددې څخه که په خپله دا امام وي او یا خو ئې پلارونه او یا نوره سلسله وي.**

**ط- بیا وروسته هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چې لوړ نسبی وي مثلاً قریشي – همدارنګه معلوم النسبی په مجهول النسب سره مستحق دی.**

**ي- بیا وروسته هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چې نېک اخلاق ولري. همدارنګه بیا هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چې جامه او کالي ئې نوي او ښائسته وي خو حسن یا ښائسته والي د جامې په شریعت کښې هغه دی چې رنګ ئې سپین وي. بالفرض که چېري په دغه ټولو شرطونو کې سره برابر وو نو بیا قرعه کشي کېږي.**

**ک- بیا هغه شخص دی چې ډېر تقوا لرونکی وي یعنې هغه متقي چې د مشبهاتو او منهیاتو څخه هم ځان ساتي ددې په خاطر چې په محرماتو کښې واقع نشي.**

**ل- همدارنګه هغه شخص چې حال ئې معلوم وي د ټولو طرفونو څخه مقدم کېږي په نسبت د مجهول الحال سره او پلار په زوي سره مقدم کېږي او تره (کاکا) د ورور په زامنو مقدم کېږي نو که ټول سره برابر وي نو بیا قرعه کشي کېږي او که چېري قوم پدې ذکر شوي خلکو کي په یوه باندي نورو رضایت درلود یعني معلوم وو چې دا شخص دي امامت وکړي بیا قرعه کشي یعني پچې ایستلو ته ضرورت نسته، هغه خوښ کړي سوی شخص د ي امامت وکړي.([1])**

[1] وهبه زحیلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۸۴ مخ – حقانیه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳. د امام شافعي رحمة الله عليه مذهب:

**ا- د امام شافعي (رح) مذهب پدې هكله ليكي چي غوره او بهتره د خلكو په امامت كولو سره والي([1]) دی د خپل ولايت په ځاي كښې ځكه پدې هكله د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه نقل سوی او فرمائي: [**لا يومن الرجل الرجل في سلطانه و لا يقعد في بيته علی تكرمته الا باذنه**][2].**

ترجمه: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائي چي امامت دي نكوي يو شخص د بل شخص د ولايت په ځاي كښي او نه دي كښېني په هغه خاص ځاي او بستره كښې مگر ددوي په اجازه سره. ليكن امام شوكاني صاحب ددې حديث په رابطه ليكي چي د ظاهر له پلوه مراد په (سلطان) پاچا سره هغه شخص دی چي سرپرستي د خلكو د امورو ورته سپارل شوي او يا صاحب البيت يعني د كول خاوند ترې اراده كېږي كه څه هم نور خلك د فقهي – علم – قرآن كريم، تقوی له وجهي څخه هم بهتره وي ليكن والي (واكدار) د خپل ولايت په ځاي كښې غوره او بهتره دي په امامت كولو سره په نسبت د فقهي عالم يا قاري د قرآنكريم سره.

**ب- بيا وروسته له والي څخه هغه شخص مستحق د امامت دی چي ددائم لپاره په قوم كښې د يوه مسجد د امام په توگه مقرر شوی وي.**

**ج- بيا وروسته هغه شخص مستحق په امامت كولو سره دی چي په خپل شخصي ملكيت كښې اوسېږي – همدارنگه مالك د منفعت غوره او بهتره**

---

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۸۵ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.
[2] امام مسلم – صحيح المسلم - لومړی ټوك – ۲۳۶مخ – قديمي كتابخانه – د چاپ كال ۱۳۴۹ – دهلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دی له عالم فقهیه ځني لیکن چي ډېر غوره او بهتره او مستحق په امامت سره هغه شخص دي چي مالك د مال وي نه هغه شخص چي په سوال سره ئې غوښتونکی وي. له دغه اشخاصو څخه وروسته:**

**د- هغه شخص دی چي فقهيه وي یعني د لمانځه په احکامو سره عالم وي.**

**ه- بیا وروسته لوستونکی یعني قاري د قرآن مستحق په امامت کولو سره دی.**

**و- بیا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چي ډېر تقوٰی داره او پرهېزگاره وي.**

**ز- بیا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چي هجرت ئې تر ټولو لومړی کړی وي.**

**ح- بیا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چي اسلام ئې تر ټولو لومړی راوړی وي.**

**ط- بیا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چي بهتره او غوره نسب ئې وي.**[1]

**ي- بیا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چي ښه غوره او بهتره سوانح او سابقه ولري یعني په ټولنه کښې يې ښه وخت تیر کړی وي.**

**ك- بیا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چي کالي او جامه ئې پاك وي.**

**ل- بیا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چي بدن ئې پاك وي.**

**م- بیا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چي کار او عمل ئې ټول نیك وي.**

---

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۸۴ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ن-  **بيا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چې غوره او بهتره (صوت) يعني اواز لري.**

س-  **بيا وروسته هغه شخص د امامت کولو مستحق دی چې ښه صورت ئې وي يعني د فزيکي جوړښت په لحاظ ښائسته وي.**

بالفرض که چيري په دې ياد شويو شيانو په ټولو کي سره برابر وو او بيا وروسته ئې اختلاف منځ ته راغی نو قرعه کشي دي وکړي يعني پچه دي واچوي –بناء په همدې اساس سره عادل شخصيت د فاسق څخه غوره او بهتره دی که څه هم دا فاسق عالم، فقيه، قاري د قرآن کريم هم وي – همدارنګه بالغ د وړوکي هلك څخه غوره او بهتره دی که څه هم وړوکی هلك عالم فقهيه او يا قاري د قرآن کريم وي – همدارنګه مقيم غوره او بهتره دی له مسافر څخه ، د حلالو اولاد د ولد زنا څخه غوره او بهتره دی اما ړوند يعني بې سترګو سړی د هغه بينا په شان دی ځکه دې ته مو لومړی هم اشاره وکړه چي ړوند بې سترګو سړی هغه شيانو ته چي مشغولوي يې نشي ليدلای ډېر خاشعين او عاجزه وي په لمانځه کي بناءً د سترګو خاوند ټولو شيانو ته پاك چټل شيانو ته ګوري نو د لمانځه لپاره چندان التفات او نظر دومره زيات نوي او نه حضور ورته برابر وي – بناء په همدې اساس د ړانده يعني بې سترګو شخص امامت کول د نومړي امام په مذهب صحيح کېږي ځکه همدا ئې دليل دی لکه چي ياد مو کړ.([1])

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۸۵ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴. د امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه مذهب

د نوموړي امام په مذهب او نظر ځیني خلک تر ځینو نورو غوره او بهتره ښودل شوي دي چي هغه فعلاً شماره وار ذکر کېږي:

**أ- غوره او بهتره په امامت کولو سره هغه څوک دی چي د قرآن کـریم پـه لوستلو سره عالم وي ځکه چي حدیث د ابي سعید خدري رضي الله تعالٰی عنـه روایت کوي چي حضرت پیغمبر (ص) فرمائي:** [اذا کانوا ثلاثه فلیوءمهم احد هم واحقهم بالامامـة اقراءهم].([1]) ژباړه: ابـي سعید خدري رضـی الله تعالٰی عنـه حدیث نقل کړی، فرمائي: پـه هغـه وخت کي چي دري نفره وي نو یو نفر دي امـام وګرځوي بهتـره او غـوره ددوي پـه امامـت کولـو سره قـاري یعنـي پـه تجویـد سـره لوستونکی د قرآن دی – همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم به بعضـي وخت حضرت ابو بکر صدیق رضي الله تعالٰی عنه د امامت کولو لپاره وړاندي کاوه ځکه چي نوموړی حافظ د قرآن کریم وو. خو سره لدې چي نور فقهاء د صحابه ؤ څخه به هم موجود وو او خاص مذهب د امام احمد بن حنبل رحمة الله پدې رابطه هم دادی چي باید قاري چي په تجوید سره قرآن کریم تلاوت کولی شي هغـه شخص امامت وکړي ځکه دعبدالله ابـن مسـعود رضـي الله تعالٰی عنـه څخـه نقـل دی او فرمـائي: [یؤم القوم اقراءهم لکتاب الله]([2]).

---

[1] الحسین ابن مسعود – مشکوة المصابیح – لومړی توك – ۱۰۷مخ- اکرمیه پینور – اکرمیه پېښور- د چاپ کال ۱۳۶۹.
[2] الحسین ابن مسعود – مشکوة المصابیح – لومړی توك – ۱۰۷مخ- اکرمیه پینور – اکرمیه پېښور- د چاپ کال ۱۳۶۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: امامت دي کوي د قوم هغه څوك چي ډېر ښه لوستونکی د قرآن کريم وي. خو دا دليل د نورو علماؤ د مذاهبو سره خلاف دی ځکه چي د هغوي په نظر هغه شخص د امامت کولو ډېر مستحق دی چي فقهيه عالم وي او د لمانځه په احکامو پوه وي لکه څرنګه مو مخکښې ياد کړل د هغه ځواب دادی چي د صحابه ؤ رضی الله عنهم قاري، لوستونکی د قرآن کريم به ضرور وه چي فقهيه عالم د لمانځه په احکامو سره به هم پوهېده، خو د لمانځه په احکامو پوهېدل په امامت کولو کښې ډېر ضرور دي په نسبت د قرائت يا ښه لوستلو د قرآن کريم سره.([1])

**ب- بيا وروسته هغه شخص په امامت کولو مستحق دی چي قرآن کريم په تجويد سره لولي او هم فقهيه عالم او د لمانځه په احکامو پوه وي.**

**ج- بيا وروسته هغه شخص په امامت کولو مستحق دی چي تنهائې قرآن کريم په تجويد سره زده وي، که څه هم فقهي عالم نوي، ليکن چي دومره اندازه معلومات ولري چي هغه د لمانځه پوري متعلق احکامو باندي عالم وي.**

**د- بيا وروسته هغه شخص په امامت کولو مستحق دی چي هغه ډېر فقهيه او د لمانځه په احکامو عالم وي.**

**ه- بيا وروسته هغه شخص په امامت کولو مستحق دی چي د قرآن کريم لوستونکی وي خو د لمانځه په احکامو عالم نوي.**

**و- بالفرض که چېري په دې ټولو شيانو کښې سره برابر وو نو بيا هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چي د لمانځه په احکامو سره تر يوې اندازې پوري عالم وي.**

---

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۸۶ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ز- او که چېري په فقهي مسائلو کښې هغه احکام چې تر لمانځه پوري متعلق وي او يا په لوستلو د قرآن کريم کښې سره برابر وو نو بيا هغه شخص مستحق د امامت کولو دی چې د زيات عمر خاوند وي ځکه چې مالك ابن الحويرث پدې هکله يو حديث نقل کړی او فرمائې [واليؤمکم اکبرکم]([1]). يعني امامت دي کوي ستاسي هغه شخص چې د زيات عمر خاوند وي چې مشروي په تاسي کښې.**

**ح- بيا وروسته هغه شخص مستحق په امامت کولو سره دی چې نېك او شريف نسبه وي.**

**ط- بيا وروسته هغه شخص مستحق په امامت کولو سره دی چې تر ټولو لومړی ئې هجرت کړی وييعني تر ټولو لومړی د اسلام دار ته داخل سوی وي.**

**ي- او بيا هغه شخص مستحق دی چې تر ټولو لومړی ئې اسلام راوړی وي ځکه د ابن مسعود رضی الله تعالٰی عنه حديث دی چې فرمائي: [فان کانوا في** الهجرته سواء فاقد مهم مسلماً ]([2]) . که چېري په هجرت کښې هم سره برابر وو بيا هغه شخص مستحق دی چي اسلام ئې تر ټولو لمړی راوړی وي. همدارنګه دا عمليه په پلارونو و نيکونو کښې هم جاري کېداي شي نه دا چي خاص اسلام راوړل دده مطرح دي.([3])

**ک-بيا وروسته هغه شخص په امامت کولو مستحق دی چي تر ټولو متقي او پرهيزګاره وي ځکه پدې هکله خدای (ج) فرمائي: [**ان اکرمکم عند الله

---

[1] الحسين ابن مسعود – مشکوة المصابيح – لومړی ټوك – ۱۰۷مخ- اکرميه پيښور – اکرميه پېښور- د چاپ کال ۱۳۶۹.
[2] الحسين ابن مسعود – مشکوة المصابيح – لومړی ټوك – ۱۰۷مخ- اکرميه پيښور – اکرميه پېښور- د چاپ کال ۱۳۶۹.
[3] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۱۸۶ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتقاكم]([1]). ژباړه: په تحقيق سره غوره او بهتره خلك د خداى (ج) په نزد هغه څوك دي چې هغه متقيان او وېرېدونكي دي د خداى (ج) څخه. كه چېري پدې ټولو شيانو كښې سره برابر وو بيا دي قرعه كشي وكړي (پچه دي واچوي) اما مسئله د (سلطان) يعني پاچا چې هغه تر ټولو غوره او بهتره وي په امامت كولو سره ځكه چې پدې هكله په خپل اطلاق سره عمل كېږي لكه څرنګه چې مقرر او معين امام مستحق دى چې د فقهي په كتابونو كښې امام الحى ورته ويل كېږي او يا صاحب البيت يعني د كور خاوند مستحق دى. نو همداشان پاچا هم مستحق، تر ټولو غوره او بهتره ګڼل كېږي.

[1] د الهجرت سورة – ١٣ اية.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مقتديان او امام

ضرور ده چي يو څه معلومات ددې د وهمې فقرې په هکله وليکم چي آيا امام د قوم چېري بايد ودرېږي او قوم چېري بايد ودرېږي؟ ځکه ضرور ده چي تر څو د مقتديانو او امام تر منځ فرق وشي او د امام ځاي معلوم شي همدارنګه د قوم درېدلو ځاي بايد معلوم وي تر څو لمونځ د قوم او امام په هغه شرطونو سره برابر شي لکه کوم چي فقهي کتابونو ذکر کړيدي.

دا خو ضروري خبره ده چي امام به د ټول قوم څخه لومړی درېږي مثلاً محراب دی نو امام به د محراب په مخ کښې درېږي دا په هغه صورت کښې چي خلك زيات وي او که چېري خلك لږ وي يعني يو نفر وي نو بيا ضرور ده چي امام به لږ غوندي مخته درېږي او مقتدي به د امام څخه ښې طرف ته د امام د پښو په پاي کښې درېږي ځکه پدې هکله حضرت جابر رضی الله تعالی عنه يو حديث نقل کړيدی چي فرمائي:

[قام رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلى فجئت فقمت على سياره فأخذ بيدي وأدارني حتّى اقامني عن يمينه ثم جاء جابر بن صخر فقام عن يسار رسول الله صلى الله عليه وسلم فاءخذ باءيدينا جميعاً فدفعنا حتّى اقامنا خلفه - رواه مسلم و ابو داؤد][1]. ژباړه: حضرت جابر رضي الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي فرمائي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم ولاړ

[1] الحسين ابن مسعود – مشكوة المصابيح – لومړی ټوك – ۱۰۶مخ- اکرميه پيښور – اکرميه پېښور- د چاپ کال ۱۳۶۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سو ددې لپاره چي لمونځ وکړي نو زه راغلم او دده په چپ طرف سره ودرېدم رسول الله صلی الله علیه وسلم زه د لاس څخه ونیولم او تاو ئې کړم تر څو زه ښې طرفته ودرېږم نو بیا وروسته جابر چي د صخر زوي دی ه راغلی – هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم چپ طرف ته ودرېدی بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم زما او د هغه دواړو لاسونه ونیول دواړه ئې د شا طرفته وگرځولو وروسته پسې ودرېدلو او لمونځ مو پسي تمام کړ.

چي ددې حدیث د مفهوم څخه د امام ددرېدلو ځاي همدارنگه د مقتدي ددریدلو ځاي او بلکې د صف جوړول هم ترې استنباط کېږي. همدارنگه مستحب خبره داده چي امام د مقتدیانو په مقابل کښې په منځ د صف کښې ودرېږي بلکه نژدې به ورته هغه اشخاص درېږي چي هغوي مشران او یا علماء وي – او یا خو د زیات عمر خاوندان وي ځکه حکمت په وړاندي والي کي دغه نوع اشخاصو دادی چي کوم وخت امام خطاء او یا سهوه کېږي د سهوي او خطاء په صورت کښې به امام ته فتح ورکوي، او یا مثلاً خلیفه گرځو لو ته ضرورت پیدا شي امام کېدای سي ددغه نوع اشخاصو څخه یو څوك ورته خلیفه وگرځوي ځکه لکه څرنگه چي امام باید په وسط د مقابل د مقتدیانو د صف کښې درېږي.

پدې هکله د حضرت ابي هریره رضي الله تعالی عنه څخه یو حدیث روایت شویدی چي فرمائي: [عن النبي صلى الله عليه وسلم قال وسطوا الامام وسدوا الخلل] رواه ابو داؤد. ژباړه: حضرت ابي هریره رضی الله تعالی عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي وائي چي رسول االه صلی الله علیه وسلم فرمائي: امام باید د ستاسي د صف په منځ کښې ودرېږي او تاسي خالي ځایونه د صف

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډكوي. ددې حديث مفهوم دادى چې امام بايد د مقتديانو په مقابل كې د صف په منځ ساحه كښې ودرېږي ځكه دليل ئې دا ذكر سوى حديث دى.

همدارنګه مو دا هم ثابته كړه چې امام بايد په مقابل د مقتديانو د صف په منځ ساحه كښې ودرېږي. نو د امام په نسبت د مقتديانو ددې درېدلو سره ددې لفظ څخه يو څو نوري ضروري مسئلې هم استنباط كېږي – مثلاً لكه د مقتديانو څخه د امام يو څه اندازه لوړ درېدل او يا مثلاً د امام درېدل په نسبت د مقتديانو پداسي حال كې چې د امام او مقتديانو تر منځ يو (حائل) يعني پرده موجوده وي.

1. **دامام لوړوالى د قوم په نسبت او يا د قوم لوړوالى د امام په نسبت:** پدې هكله شيخ سيد سابق رحمة الله عليه په خپل كتاب فقه السنة كښې ليكي چې د امام درېدل په لوړ ځاي په نسبت د مقتديانو سره مكروه دى د كراهيت دليل ئې د عبدالله ابن مسعود رضى الله تعالى عنه حديث دى چې فرمائي: [نهي رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يقوم الامام فوق شيء والناس خليفه]([1]). ژباړه: حضرت عبدالله ابن مسعود رضى الله تعالى عنه فرمائي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نهي كړې ددې څخه چې امام دې د يوه شي په سر لوړ ودرېږي او قوم دې وروسته ورپسې ولاړ وي.

فرضاً كه چېرې دامام په لوړ ځاي درېدل د يوه غرض لپاره وي مثلاً لكه د لمانځه تعليم وركول قوم ته نو بيا كراهيت له منځه ځي ځكه حضرت سهل بن ساعدي رضي الله تعالى عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي وائي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم وليدى چې په منبر ناست وو په هغه ورځ چې منبر جوړ شوى وو بيا وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم تكبير ووايه بيا ئې ركوع

---

[1] محمد ابن علي شوكاني – نيل الاوطار دريم ټوك – ۳۳۷ مخ – دارالجيل بيروت دچاپ كال ۱۹۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه او بیا وروسته شاته راغی او سجده ئې په اصل منبر وکړه بیا راوګرځېدی کوم وخت کښې چې د لمانځه څخه خلاص شو خلکو ته مخامخ شو ورته وئې ویل [ایهالناس انما ضعت هذالتاتموا بي و لتعلموا صلوتي](1)

ژباړه: ای خلکو دا ډول کړنه چې ما ستاسي په مخ کښې وکړه چې تاسي خپل لمونځونه پوره کړی او د خپل لمانځه تعلیم وکړی –یاد شوی حدیث ددې لپاره دلیل دی چې که چېري د کوم غرض په خاطر امام د قوم په نسبت لوړ وي بیا لمونځ نه مکروه کېږي.

اما د مقتدیانو لوړوالی په نسبت د امام سره جائز دی او کراهیت نلري خو لیکن امام شوکاني (رح) لیکي چې که چېري د امام لوړوالی د مقتدي په نسبت ډېر زیات وي مثلاً لکه ۳۰۰ متر لوړوالی پداسي حال کي چې مقتدي د امام په حال نه خبرېږي دا اقتداء د ټولو علماؤ په اتفاق نه صحیح کېږي بلکي د مسجد یا غیر د مسجد کوم توپیر ندی ښودل خو که د یاد شوي اندازې څخه کم وي بیا جواز لري او لمونځ ئې صحیح کېږي. تر څو چې په ممانعت سره کوم دلیل نوي پیدا سوی. همدارنګه پدې اړوند دوکتور وهبه زحیلي په خپل کتاب فقه اسلامي وادلته کښې لیکي چې د مقتدیانو په نسبت د امام لوړوالی په څلورو مذهبونو کښې جواز لري خو لږ مکروهوالی پکښې شته که چېري لږ غوندي تفاوت یا ارتفاع ولري نود امام مالك او احمد بن حنبل صاحب له نظره مکروه والی لري. د امام شافعي رحمة الله علیه نظر دادی که چېري د ضرورت حالت وي او یا خوئې د تعلیم

[1] محمد ابن علي شوکاني – نیل الاوطار دریم ټوك – ۳۳۷ مخ – دارالجیل بیروت دچاپ کال ۱۹۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قصد وي بيا کوم مشکل پکښې نشته لکه څرنګه چي شيخ سيد سابق (رح) هم يادونه کړې خو يو شمېر علماء د امام لوړوالی بالکل ممنوع ګڼې.

اما د اختلاف سبب د ياد شويو علماؤ تر منځ دوه معارض حديثونه دي چي سهل بن سعد (رض) د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړي فرمائي چي: رسول الله صلی الله عليه وسلم به د خلکو امامت کاوه او هغه به په منبر ناست وو کوم وخت چي به ئې د سجدې کولو اراده وکړه د منبر څخه به کښته شو او سجده به ئې وکړه.

دوهم حديث دادی چي ابو داؤد روايت کړی [ان حذيفة أم الناس علٰی دکان فاخذ ابن مسعود بقميصه فجذبه فلمافرغ من صلوته (قال الم تعلم انهم کانوا ينهون عن ذالك)][1].

**ياد شوی حديث ابو داؤد د همام څخه روايت کړی فرمائې:** چي حذيفه رضي الله تعالی عنه د خلکو امامت کاوه پداسي خال کي چي نوموړي په لوړ ځاي ولاړ وو – او ابن مسعود رضي الله تعالی عنه د قميص څخه ونيوی او لاندي يې کش کړ هر کله چي د لمانځه څخه فارغ شو ورته وئې ويل چي آيا ته نه ئې خبر چي دوی له دغه ډول عمل څخه منع شوي دي د اختلاف سبب دنوموړو علماؤ ترمنځ ياد شوي حديثونه دي. چي ځيني علماء په لومړي حديث عمل کوي او ځيني نور ئې په دوهم حديث عمل کوي[2].

---

[1] سليمان ابن شعيب ابي داؤد سيستاني – ابي داؤد – لومړی ټوك – ۱۸۸مخ – اکرميه پېښور – ب – ت.
[2] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۲۰۶ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څرنګه چي مومخکي هم ورته اشاره وکړه چي په امام پسي د مقتدي اقتداء کول پداسي حال کښې چي ددوي تر منځ (حائل) يعني پټونکی شي وي چي پدې اړوند شيخ سيد سابق په خپل کتاب فقه السنة کښې ليکي چي په امام پسي د مقتدي اقتداء کول پداسي حال کښې چي ددوي دواړو تر منځ(حائل) يعني پټونکی شي موجود وي جواز لري او اقتداء صحت پيدا کوي خو پدې شرط چي د امام په حرکاتو ، قرائت او تکبير اوريدلو مقتدي پوه شي – که چېري په امام پسي اقتداء وکړي او ددوي دواړو تر منځ (نهر) جاري واله وي نو د مقتدي لمونځ صحيح دی او جواز لري همدارنګه ابو مجازا (رح) وايي چي پداسي صورت کي چي يو مقتدی په امام پسي اقتداء وکړي او دوي دواړو تر منځ لويه لاره او يا دېوال وي د نوموړي مقتدي اقتداء صحيح ده ليکن پدې شرط سره چي تکبير تحريمه واوري([1]).

همدارنګه پدې هکله شېخ طاهر بن احمد په خپل کتاب خلاصة الفتوٰی کي ليکي چي (حائط) ديوال مانع د اقتداء څخه نه کېږي نوموړی زياتوي چي د اسلامي فقهي علماء پدې نظردي چي امام محمد صاحب کوم ديوال ياد کړي هغه داسي دېوال دی چي وړوکی او لنډ وي. که دېوال لوړ وي بيا هم اقتداء د مقتدي نه صحيح کېږي ځکه چي داسي ديوال په حائل سره حسابېږي خو که چېري دغه دېوال لوړ وي لکن د مسجد د طرف څخه ورته لاره وي يعني دروازه ولري کله چي مقتدي وغواړي چي امام ته ځان ورورسوي تر څو د امام افعال ويني او يائې قرائت واوري او دا ياد شوي صورتونه په مقتدي مشتبهه نشي نو د ټولو علماؤ په

[1] شيخ سيد سابق – فقه السنة – لومړی ټوك – ۲۰۳مخ - دار الفكر – د چاپ كال ۱۴۰۳ څلورم چاپ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتفاق سره د مقتدي اقتداء پدې ټولو صورتونو کښې په امام پسي صحيح کېږي – خو که چېري دروازه چي د مسجد بام (چت) ته وتلی ده تړلی وي او امکان ئې د وصول امام ته نوي نو شمس الائمة الحلواني (رح) وايي چي بيا هم پدې صورت کي د مقتدي لمونځ کېږي[1].

[1] شيخ محمد طاهر – خلاصة الفتوٰی – لومړی ټوك – ۱۵۰مخ – حبيبيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تکبیر تحریمې وخت د امام لپاره

څرنګه چې جماعت تیاریږي او امام محراب ته وړاندې کیږي او یو تعداد خلک د جماعت لپاره حاضر سوي وي او قامت ویل کیږي نو امام باید تکبیر تحریمه ووایي. داچې د اقامت ویلو په منځ کښې او یا خوئې د قامت د خلاصیدو سره سم تکبیر تحریمه ووائې.

پدې هکله جمهور علماء وائي چې امام باید هغه وخت تکبیر تحریمه ووائي چې اقامت خلاص شي او صفونه ټول سره برابر شي وروسته دې تکبیر تحریمه ووائي. خو احناف علماء وائي چې تکبیر تحریمه باید د قامت ویلو په منځ کښې ئې ووایي لیکن غوره او بهتره خبره دا ده چې په هغه وخت کښې چې قد قامت الصلوٰة کلیمه وویل شي نو امام باید تکبیر تحریمه ووایي.([1])

د نظرونو توپیر د جمهور او احنافو علماؤ تر منځ د حدیثونو ظاهري تعارض دي چې حضرت انس او بلال رضی الله تعالی عنهما ئې روایت کړی کوم چې د حضرت انس رضی الله تعالی عنه حدیث دی چې فرمائي: رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ په منځ کې راوګرځیده مخکښې لدې څخه چې تکبیر تحریمه

[1] مؤلف وهبه زحیلي – کتاب: فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوک – ۲۰۴مخ – حقانیه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روايـي وئـې فرمايـل [آقيمـوا صـفوفكم و تراصـوا فـاني اراكـم مـن وراء ظهري].([1])

ژباړه: (تاسي ودروی او برابر کړي صفونه ستاسي په تحقيق سره زه وينم تاسي زما د شا څخه وروسته) – ظاهراً د حديث څخه معلوميږي چي ذکر شوي نصيحت د قامت ويلو څخه وروسته شوی لکه څرنګه چي د حضرت عمر رضي الله تعالی عنه څخه هم پدې هکله نقل راغلی دی چي حضرت عمر رضی الله تعالی عنه به هغه وخت چي قامت به وويل شو او صفونه به برابر شول بيا به ئې ورته تکبير وواېه.

او لکه چي د حضرت بلال رضی الله عنه حديث دی چي مضمون ئې داسي راځي چي حضرت بلال رضی الله تعالی عنه به اقامت په رسول الله صلی الله عليه وسلم پسي د وروسته وايه او بلال رضی الله تعالی عنه به ورته وويل چي وړاندي والی مکوه زما په امين سره يعني رسول الله صلی الله به دومره اندازه قران کريم لوستلی وو چي تقريباً امين ته به رسيدلی وو او بلال رضی الله تعالی عنه به اقامت ويل لا نه وه خلاص کړي. د حضرت بلال رضی الله تعالی عنه حديث پدې دلالت کوي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم به تکبير تحريمه وايه او بلال (رض) به اقامت ويل لا نه وو خلاص کړی. په همدې توګه د

[1] محمد بن اسماعيل البخاري صحيح البخاري – لمړی ټوك – ۱۰۰مخ – قديمي كتابخانه – د چاپ كال ۱۹۳۸م.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهورو علماؤ د مذهب معمول هم دا حديث دی، ددوي نظر هم دادی چي اقامت ويل چي خلاص شي بايد امام تکبير تحريمه ووائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امام ته د فتحي ورکول

دا موضوع کېدای شي په (کتاب مبطلات الصلوٰة) کښې ښه روښانه سوي وي او اصلي د بحث کولو ځاي ئې هم د لمانځه باطلوونکي څيزونه دي، نو بايد په هغه ځای کښې بحث ورباندي سوی وي ليکن بياهم څرنګه چي ياد شوې موضوع تر امام پوري تړلې ده او فتح ورکول امام ته ضرور دي نو بناء په همدې اساس پدې ځای کښې موږ دا موضوع مطلب وګرځوله.

فتح ورکول امام ته صحيح دي او څلورو مذهبونو پرې اتفاق کړی بلکي نور ټولو فقهاء هم امام ته د فتحي ورکول صحيح ګڼي په هغه وخت کښې چي فتحي ورکولو ته ضرورت پيدا شي چي د صحت روايت ئې د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه څخه راغلی – بلکي يو تعداد نور علماء دي چي هغوي ئې صحيح نه ګڼي چي دا نقل د حضرت علي رضي الله تعالی عنه څخه راغلی، نو د اختلاف اساسي او عمده نقطه داده چي د علماؤ اختلاف د رواياتو د اختلاف په اساس دی. لکه څرنګه چي روايت سوی([1]): [صلي رسول الله صلى الله عليه وسلم فترك آية فقال له رجل، يا رسول الله ايت كذا وكذا، قال: فهلا ذكر يتنها؟]([2]).

<u>ژباړه:</u> لکه څرنګه چي روايت سوی چي رسول الله (صلی الله تعالی عليه وسلم) په خلکو لمونځ اداء کاوه بيا ئې يو آيت پرېښوده او يوه سړي ورته

[1] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۲۰۵ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.
[2] محمد ابن علي شوكاني – نيل الاوطار دريم ټوك –۳۷۲ مخ – دارالجيل بيروت دچاپ كال ۱۹۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل چي فلانی او فلانی آیت دي پرېښوده – رسول الله (صلی الله علیه وسلم)
په جواب کي ورته وویل چي ولي دي نه راپه یاد اوه؟ چي صحیح مي لوستلی
وای. کنایه د فتحي ورکولو څخه ده یعني ولی دي فتحه نه راکوله –
همدارنګه بل حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل سوی [ و
روي عنه صلى الله عليه وسلم قال: [يا علي لاتفتح على الامام في
صلوة]([1]).

ددې حدیث د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل شوی دی چي رسول الله
صلی الله علیه وسلم فرمائي: اې علي رضی الله تعالی عنه! ته امام ته فتح مه
ورکوه په لمانځه کښې نو ددې حدیث د مفوم څخه دا معلومېږي چي فتح
ورکول امام ته په لمانځه کي نه صحیح کېږي. لکن بیا هم صحیح ده په روایت
او عمل دواړو کښې هغه دا چي فتح ورکول امام ته د لمانځه په داخل کښې
صحیح دي او جواز لري.([2])

[1] محمد ابن علي شوكاني – نيل الاوطار دريم ټوك – ۳۷۳ مخ – دارالجيل بيروت دچاپ كال ۱۹۷۳.
[2] وهبه زحيلي – فقه اسلامي وادلته – دوهم ټوك – ۲۰۵ مخ – حقانيه پېښور – ب – ت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خاتمه

څرنګه چي دا موضوع پای ته ورسېده پدې کښې د وضعي او حالاتو سره مطابق په زړه پورې مطلبونه ذکر شویدي. د مثال په توګه اول فصل د لمانځه په رابطه لیکل شوی چي په همدې ذکر شوي فصل کښې په زړه پورې مطلبونه دي مثلاً لکه د لمانځه اهمیت او ثبوت په اسلام کښې او همدارنګه د لمانځه لغوي او اصطلاحي معناوي، همدارنګه د لمانځه د پرېښودونکي په اړوند احکام بیان شوي او همدارنګه دوهم فصل د امامت صغرٰی (وړوکي امامت) لغوي او اصطلاحي معنٰی او هغه اشخاص چي امامت کول ئې مکروه دي، هغه شیان چي امامت فاسدوي بلکي یو تعداد نور هغه احکام پکښې بیان شوي چي هغه خاص په امامت پورې مربوط دي خو بعضي نور مسائل چي هغه ددې موضوع متعلق ګڼل کېږي په پوره توګه پکښې بیان شوي.

همدارنګه مو پدې هکله د مستندو فقهي کتابونو څخه مثلاً لکه فقه اسلامي و ادلته – فقه السنة – الدر المختار – او داسې نورو بلکي د حدیثو د کتابونو او د نورو موضوعاتو متعلق د کتابونو څخه استفاده کړې.

خو بیا هم د یادوني وړ خبره داده چي که چېرې په دې رساله کښې په بعضي ځایونو کښې سهوي صورت نیولی وي او یا خطاء شوې وي، بلکي زه په خپله سهو او خطاء نه وم پوه شوی نو اول د خدای (جل جلاله) څخه د مغفرت غوښتنه کوم بیا د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورونو علماؤ او طالبانو ځخه چي دا کتاب مطالعه کوي بخښنه غواړم او هیله لرم چي په ورورۍ او مینه ئې د بل ځل لپاره راته په ګوته کړي.

خدای (ج) ته امید لرم چي دغه اندازه زیار او زحمت ایستل زموږ اول د خدای (ج) د رضاء سبب وګرځي او بیا د هغه شمیر خلکو چي ددې کتاب مطالعې ته اړ شوي وي. او غواړم چي یوځه اندازه معلومات ترې ترلاسه کړي. هغوي ته او د ټولي اسلامي نړۍ د علم او پوهني علاقه لرونکیو خلکو ته سبب د خدمت ګرځیدلی وي. بلکي د یادوني وړ خبره داده چي ځرنګه ما غوښتل چي دا کتاب باید زه په زیاته اندازه (محتوٰی) او مطلبونو کښې راټول کړم خو لکه ځرنګه چي مشکلات زیات وو او مراجع په هغه ډول چي لازمي وې نه پیداکیږي نو په همدې اندازه ما اکتفاء وکړه. هیله لرم چي خدای (ج) زموږ زیار او زحمت قبول کړي او د اسلامي ټولني لپاره مو یو خدمت کــــــــړی وي.

والســــــلام

وما ذالک علی الله بعزیز

قاضی محمد حاکم (شریعتي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مـأخــذونه


1) قــــــرآن کــــــــريم.
2) صحيح البـخـــــــــاري.
3) صحيح المســــــــــلم.
4) ســـنن ابـــــــــي داؤد.
5) ابن ماجـــــــــــــه.
6) نيــــــــل الاوطـــــار.
7) ســبـل الاســـــلام.
8) فقه اســـــــلامي و ادلتـــه.
9) فقه الســـــــــنة.
10) الدر الــمختـــــــــار.
11) خلاصة الفتـــــــوٰى.
12) فتٰــوٰي قاضيخـــــــان.
13) نورالايضـــــــــــاح.
14) فضــــائل الاعمـــــال.
15) تفســـير حرمين شرفين.
16) الـمـنـجــد فـي اللـغـــة.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**